# زما د مینې نه توبه ده !

لیکوال: انجنیر ستانه میر زهیر

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

.

پیښې د ژوند د شیبېو سره ملګرې وي ، پیښه کیدای شي زموږ د هیلې او امید سره سمه او په زړه پورې وي او کله هم کیدای شي زموږ د هیلو خلاف له دردونو او ویرونو ډکه وي.
د پیښې نه کیسه جوړیږي او د کیسې سره مینه او علاقه د انسان په خټه کې اغږل شوي ده. ځکه خوله پخوا زمانو راهیسې د کیسو د اوریدلو او لوستلو لړۍ روانه ده. پخوا به کیسې ډیرې اوږدې وی چې د مشهورو کیسه ویونکو له خوا به د ډیرو خلکو په منځ کې ویل کیدې خو د زمانو په اوږدو کې د انسان مصرفیتونه زیات شوي او د اوږدو کیسو د اوریدو حوصله کمه شوې ده ، ځکه خو د اوږدو کیسو ځای وروورو لنډو کیسو ونیوه.
په دې ټولګه کې ما هڅه کړې چې د خپل ژوند ځنې لیدلې او ځنې هم اوریدلې پیښې د خیال په مټ دځو لنډو او طنزي کیسو په بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو ته وړاندې کړم . همدا رنګه هڅه مې کړې چې یو دوه کیسې د سنفکشن په بڼه ولیکم . سنفکشن هغه کیسې دي چې په موجوده وخت کې یو خیال وی خو دا خیال کیدای شي د ساینس پوهانو په مرسته په راتلونکي وخت کې عملي بڼه خپله کړي.
په دویمه برخه کې مې هڅه کړې چې په لږو ټکو کې ستریپیغام د ادبي طرحو په بڼه د خپلو لوستونکو سره شریک کړم.دا چې په دې برخه کې به زه څومره بریالی یم ، دا قضاوت به لوستونکو ته پرېږدو .   مننه

انجنیر ستانه میر زهیر
24-03-2010 _ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پلار له ویرې .... ؟؟؟

مور خپل دولس کلن زوي انارگل ته په لوړ غږ وویل:
ـ اناره ،وا اناره زویه تاته وایم ، چابکه راشه چې غوا درته خلاصه کم.
انارگل په بیړه راغی او په خپله ماشومانه لهجه یې ، په عذرو زاریو داسې وویل::
ـخیر دی مورې ، داختر ورځې دي ، نن هم په کور کې واښه ورته واچوه ، سبا به یې د وخته بوځم ، ښه مورې !؟
مور یې په داسې حال کې چې غوا یې له موږي نه خلاصوله ، لږه تېکنۍ شوه ، زړه نا زړه یې وویل :
ـ ځه درته وو ایم زویه !، که پلار دې خبر شي چې نن دې بیا هم غوا سارا ته نه ده بیولې ، ژوندی به دې پرې نه ږدي.
ـخیر دی مورې ، ته یوځل ورته وو ایه ، هغه بیا څه نه وایي...
مور یې زړه وربا ندې وسوځیده، خلاصه کړې غوا یې بیرته په موږي پورې وتړله ، او بیا یې انارگل ته مخ ورواړاوه:
ـ ښه ده زویه !چې ته وایې نن دې هم په کور ولاړه وي خو پام دې وي چې سبا گوره بیا دا انې بانې ونه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انارګل چې د مور دا خبره واوریده بې اختیاره یې له خولې نه د خوشالۍ یوه کریکه ووتله ، غوښتل یې په یوه منډه له کوره ووځي او خپلو همځولو ته ځان ورسوي.څو قدمه چې مخکې لاړ ، نا څاپه یې پلار د کلا په لویه دروازه را ننوت.انارګل له ویرې لکه وچ لرګی په ځای ودریده .
پلار یې د تل په شان انارګل ته له غوسې نه په ډکه لهجه وویل:

ـ د ځناور بچیه ! غوا تراوسه په کور کې ولاړه ده ، او ته خوشې په خوشې ګرځې...؟

انارګل له ډیرې ویرې هیڅ ونه ویل ، یوازې یې خپلې مور ته په دې تمه غلې غلې کتل چې هغه یې ځواب ووایي.

موریې چې د انارګل زیړ او زبیښلی رنګ ته پام شو په وروغږیې د هغه په پلوۍ وویل:

ـ خیرد ی سړیه ! ماشوم دی ، د اختر ورځې دي ، ټول همځولي یې په دکلي په میدانۍ کې لوبې کوي ، پریږده چې دی هم ورشي ، ماته یې ډیرې زارۍ وکړی ، پام دې وي چې څه ورته ونه وایې .....

پلار یې چې دا خبره واوریده نو په ډیره غوسه یې خپلې ښځې ته وویل

ـ دا هلک ستا د لاسه وران شوی، ستا دلاسه ! پخوانیو ویلي دي: چېرته چې ډب نه وي ، هلته ادب نه وي

او ددې خبرې سره سم یې د انارګل په مخ داسې څپیړه حواله کړه چې د چا خبره غږ یې په لسم کلي هم اوریدل کیده.

.انارګل خوارکي له ډیره درده یوه سخته کریکه وکړه خو د پلار له ویرې بیرته غلی شو ، ژر ژر یې له سره لویدلې خولۍ له ځمکې راپورته او له خاورو وڅنډله ، په داسې حال کې یې غوا له کوره وویستله چې دوړو وړو سلګیو سره یې له سترګو مړې مړې اوښکې هم روانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انارګل په ژړا ژړا کې غوا د غره لمنې ته ورسوله . غوا څریدله او خپل واښه یې خوړل. خو دانارګل د زړه نه یوازې خدای خبر و . یوې غټې تیږې ته یې ډډه ولګوله ، دخپلو ماشومانه فکرونو په لوي سمندر کې لاهو شو ، کله به ورته په کلي کې د خپلو همځولو لوبې سترګو ته ودریدې او کله به ورته د خپل پلار ځپیره... ، په همدې چرتونو کې ډوب و چې خو ب پرې خپلې وزرې وغوړولې . ورو یې یوه وړه تیږه خپل سرته کیښوده او په کراره کراره په درانه خوب ویده شو
غرمه مهال چې له خوبه راپورته شو . په بیړه یې د خپلې غوا په لور وکتل ، خو له بده بخته د غوا درک نه و. د لیوني غوندې یې کله یوې
خوا او کله بلې خوا منډې ووهلې خو بیا یې هم درک ونه لګیده .
ډیر وارخطا شو ، حیران و چې څه وکړي د غره نه سمې ته راښکته شو په لویه لار کې ودریده ، دیوه او بل نه به یې یوازې همدومره پوښتل:
_ ماما زما غوا دې نه ده لیدلې ؟
خو هر چا به ورته یوازې د نه ځواب ورکاوه . له ډیرو پوښتنو وروسته یوه تن ورته وویل:
_ وراره ګله ، ځان مه ستړی کوه ، په دې ورځو کې غله ډیرشوي دي چا به درنه پټه کړې وي ، کور ته لاړ شه پلار دې خبر کړه چې هغه یې ولټوي
ددې خبرې په اوریدو سره انار ګل هم په دې باوري شو چې غوا یې په رښتیا هم چا پټه کړې ده ، اوس نو په دې چرتونو کې لاړ چې کورته لاړ شي که نه ؟
که لاړ شي او پلار یې خبر شي چې غوا ورکه شوې څه به وایي.....؟
په همدې کشمکش کې را ګیر و او ځانته یې د حل لاره لټوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلې خوا يې مور په کور کې ډيره ناارامه وه ځکه د لمر سترګه په لويدو وه او د انارګل درک نه و ،شيبه په شيبه يې انديښنه زياتيده په وار خطايې له کوره راووتله ، مخامخ يې هغې لارې ته وکتل ، په کومه لار به چې هره ورځ انارګل د خپلې سرې غوا سره يو ځای د کور په لور راروان و .

په انتظار کې د ماښام تياره را خوره شوه او د انارګل پلار هم په جومات کې د ماښام د لمانځه نه وروسته خپل کور ته راستون شو . د کلا په لويه دروازه کې ښځې په وار خطايې او د د ژړا نه په ډک غږ ورته وويل:

ـ سړيه خدای دې خير کي ، انارګل زوي مې تر اوسه نه راغلی.

ـ دا څه وايې ، غوا هم نه شته او انارګل هم ؟

ـ هو ، هله ژر ورپسې لاړ شه ، خدای مه کړه چې کومې بده پيښې سره نه وي مخامخ شوی .

د انارګل پلار چې دا خبره واوريده ، ډير وار خطا شو ,ژر يې لګيدلی لاټين د ځان سره واخيست او له کوره ووت ، د څو تنو ګاونډيانو په مرسته يې لومړی د غره لمنې تيره په تيره او ناو په ناو وکتلې ، بيا يې په کلي کې ديوه او بل د کور دروازې هم وټکولې خو هيچا د انارګل درک ورنه کړ.

نيمه شپه په خواشينی کورته راستون شو ، خوب يې له سترګو الوتی و تر سهاره يې شپه په ويښه تيره کړه. شپه چې سبا شوه ښځې د ژړا نه په ډک غږ وويل:

ـ سړيه ! رښا ځمکې ته رالويدلې ده ، نور نو په کور کې د کيناستو وخت نه دی ، چابکه لاړ شه ، د زوي مړی ژوندی مې پيدا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ په تګ به لاړ شم خو ځمکه او اسمان مې دواړه لټولي، نور نه پوهیږم چې څه وکړم او چیرته یې ولټوم ؟

د همدې خبرې سره سم یو ځل بیا له کوره ووت. ټوله ورځ یې بیا هم په ګرځیدو ګرځیدو تیره کړه خو د انارګل هیڅ پته ونه لګیده.

د ورځې په اوږدو کې د کلي ښځې ، ماشومان ، سپین ږیري او ځوانان ټول د انارګل له ورکیدو نه خبر شول ، یوه به ویل:

ـ کیدای شي خوارکی په غره کې لیوانو خوړلی وي

بل به ویل:

ـ کیدای شي له کوم کمره نه لویدلی وي او په غره کې مړ پروت وي

لنډه دا چې هر چا به له خپله انده بیلابیلې تبصرې کولې خو هیڅوک په رښتینې توګه نه پوهیدل چې په انارګل به څه راغلي وي.....

دوه درې ورځې تیرې شوې خو بیا هم د انارګل درک ونه لګیده. د هرې ورځې په تیریدو د هغه د مړینې خبره له اوازو څخه د حقیقت په لور نږدې کیده. له همدې امله به ډلې ډلې کلیوال د غمرازۍ له پاره راتلل او د انارګل پلارته به یې ، د تسلیت او ډاډ ګیرنې په خوا کې فاتحه هم ورکوله.

یوه ورځ د کلیوالو په منځ کې یوه تن د خبرو اترو په ترځ کې دانارګل پلار ته وویل:

ـ ماما ! مرګ اوژوند د خدای (ج) په لاس کې دی ، نا امیده کیږه مه ، که زما منې یو ځل لاړشه د ښار په روغتونونو هم وګرځه ، ګوندې هلته یې څه درک ولګیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انارګل پلار چې دا خبره واوریده یو څه په فکر کې ډوب شو کله چې د راغلو میلمنو نه وزګارشو ،د خپلې میرمنې سره یې دا خبره شریکه کړه.
میرمنې ورته په ژړغونې غږ وویل:
ـ د انارګل پلاره ! ته لکه چې سودایي شوې یې، ښار چیرته او انارګل چیرته ، په انارګل چې هره ټکه راغلې ، هغه په همدې کلي کې ده... لاړ شه ، بیا یې ولټوه بیا یې ولټوه ...
دانارګل پلار په دې پوره باوري و چې نور یې نو زوي په کلي کې نه شته ، چکه خو یې د ښار په لور وخوځیده ، ماسپښین مهال و چې د ښار لوي روغتون ته ورغی.
د روغتون په دروازه کې یې ، د لا وارثه مړي ، ژوندي پوښتنه وکړه ، د روغتون یوه کارکونکي هغه لاس نیولی د ځان سره بوتللو او د یو ماشوم کټ ته یې ودرولو .د روغتون کارکونکي ورو ورو دماشوم له مخ نه څادر پورته کړ:
د انارګل پلار چې ماشوم ولید ، سمدلاسه یې په زوره چغه کړه:
ـ اخ !دا خو زما زوي انارګل دی ...
د روغتون کارکونکي د ډاډګیرنې وروسته ورته وویل :
ـ کاکا ښه دی چې راغلې ، ستاسو ماشوم لا پرون په حق رسیدلی خو داچې وارث یې نه و معلوم موږ تر ننه پورې ساتلی دی ، تاسو کولی شی اوس دخپل ماشوم زوي ځنازه یوسی. الله دې وبخښي ! او تاسو ته دې الله د زړه صبر درکړي
د انارګل پلار په ژړا ، ژړا سورې او نارې پیل کړې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه نه ، تر هغو یې ځنازه نه وړم ، څو مې د خپل زوي قاتل نه وي پیدا کړی ، هله ژرکوی ، وواېې ! زما زوي چا ژوندی په اور کې سیزلی ..... زه به د خپل زوي قاتل ژوندی پرې نه ږدم ...

دروغتون کارکونکي په ډېره ارامه لهجه ورته وویل:

ـ کاکا ستاسو زوي ، هیچا نه دی وژلی ، هغه ستاسو په کلي کې پخپله ځانته اور اچولی و ، د سوزیدو په وخت کې د هغه چیغو اد نارو په لاره د تلونکي موټر ډریور پام ځان ته را اړولی و ، هغه سره دې خدای ښه وکړي تر موږ یې ژوندی راورساوه ، په لومړی ورځ خبرې کولې شوې . موږ ورنه د سوزیدو د علت پوښتنه وکړه: هغه راته په ځواب کې داسې وویل:

ـ غوا مې د غره لمنې ته د څر له پاره بیولې وه ، هغه رانه چا پټه کړه د پلار له ویرې کور ته نه شوم تللی ، بله چاره مې نه لرله ، له مجبورۍ ورځې مې ځان ته اور واچاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د مينې نه توبه ده !

جلال په زمزمه د ځان مينځلو له تشناب نه راووت. سمدلاسه يې راډيو چالان کړه. په راډيو کې ګلزار عالم دا سندره ويله:

له پاسه واورې وريدې غرونو لمبې کولې
ما او جانان چې له يو بل سره وعدې کولې

راډيو يې نوره هم په زوره کړه، په داسې حال کې چې د خپل سر ويښتان يې په دسمال وچول، د راډيو د سندرې د موزيک سره سم يې د نڅا حرکات هم پيل کړل.ناڅاپه يې مور راننوتنه، لومړيې راډيو مړه کړه او بيا يې په قهر جلال ته وويل:

- دا څه دې متوب دې شروع کړې دې، ټوله ورځ ته يې او سندرې دې، تاسو ته دا ميراث له پلار نه پاتې دی. هغه به هم په ځوانۍ کې همدا کارونه کول.

جلال له ډير خجالت نه سر ښکته ونيوه. هيڅ غږ غوږ يې ونه کړاو په بيړه له کوره ووت.مور يې په کوټه کې خواره واره شيان، ټول ځای په ځای کړل په تلويزون يې دسمال وغوړاوه، راډيو يې په خپل ځای کيښوده. هرې خوا پرتې داډيو او ويډيو CD ګانې يې په يوې پلاستيکي کڅوره کې واچولې او هغه يې هم د تلويزون په خوا کې کيښودلې.

د جلال ملګري او د دوستان هم د سندرو د اوريدو ډير زيات مينوال و. کله نا کله به يې په يوه او بله حجره کې د منګي، ستار او رباب سره د ټنګ ټکور مجلسونه جوړول. په هغو ودونو کې چې به ساز او سرورد و نو جلال او دهغه ياران به د هر چا دمخه په کټونو کې ناست وو.

خو نن چې د کلي په ميدانی کې دجلال يارانو د هغه سره روغبړ کاوه ، يو څه خپه معلوميده. يوه او بل ورنه د خپګان پوښتنه کوله، خو هغه خبره هاخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیخوا کوله او ځواب يې نه ورکاوه. ملګرو هم نه پرېښوده ، په بیا بیا یې ورته وویل ، په پای کې مجبور شو او داسې يې ورته وویل :
- په ټول عمر کې مې یوازې همدا نن د راډیو د سندرې سره په خپله کوټه کې ډانس کولو چې ناڅاپه مې مورکوټې ته راغله او زه یې ولیدلم، اوس مې خدای شته ډیره خوا بده ده.
د دی خبری سره سم ټولو ملګرو يې په کړس کړس وخندل ، یوه ملګری پری غږ کړ:
- یاره هیڅ چرت مه خرابوه، دا دومره د خپګان خبره نه ده،څه بل چا خو نه یې لیدلی، خپلی مور لیدلی مور ! خپله مور خو مور وي.
د دې خبرې سره سم د جلال ټنډه وغوړېده او یو څه مسکی شو. یو بل ملګری پرې غږ کړ:
- جلاله ! زیری مې درباندی، بیګاه ته په برکلی کې واده دی، له ښار نه یې زبردست ډمان راوستی دی. که خوښه دی وي ټول به یوځای ورځو ، پام دې وي چې بیا ګوره انې بانې ونه کړې.
جلال چې دا خبره واوریده، له ډیری خوشحالی نه یې رنګ تک سور شو او په لوړ غږ يې وویل:
- بیشکه ! ته بیګاه یادوې زه خو وایم راځی چې همدا اوس ورشو.
جلال ماښام د خپلو ملګرو سره واده ته لاړ ، تر نیمی شپې پورې د ډمانو سیل ته ناست و. ډمانو چې خپلی باجی او دوکړې (دبلی) وتړلی، نو جلال هم د خپل کور مخه ونیوله.
کله چې د کور دروازی ته ورسیده نو په زړه يې ویره او ډار ننوت ، ځکه په نیمه شپه یې نه شو کولی چې د کلا دروازه ووهی، په ډیری خواری د کلا د دیوال له لاری د خپل کورانګړ ته ښکته شو .غلی غلی روان چې مور او پلار یې په راتګ خبر نه شي. خپلی کوټې ته د رسیدو سره سم یې لومړی تلویزون چالان کړ او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل کټ د بسترې په سمولو اخته شو . په تلویزون کې یو دم نوې سندره د یوې ښځینه سندرغاړې په غږ د اسې پیل شوه

زما د مینې نه توبه ده بیا به نه کړم مینه

د جانان مینه عجیبه ده بیا به نه کړم مینه

جلال چې د سندر غاړې غږ تر غوږ شو ، نو د خپلې بسترې سمول یې پریښودل او په بیړه یې د تلویزون د پردې په لور وکتل ، هک پک شو ، د سندر غاړی په څیره یې خپلې سترګې نورې هم ښخې کړی. ناڅاپه یې په کړیکه وویل:

-آخ ! خدایه ! دا څه ګورم !؟

د دې خبرې سره سم یې، په خوا کې ایښی د اوبو ښیښې جک او ګیلاس یو په بل پسې د تلویزون په ښیښه وار کړل او د تلویزون د سکرین ماتې ښیښې هرې خوا خورې ورې دل شوې.

جلال تر ډیره وخته په خپله کوټه کې بې هوښه پروت و ، خو کله چې په هوښ راغی رښا ځمکی ته رالوېدلی وه. ژرژر یې د خپل سفر له پاره تیاری ونیو ، څو یې چې مور او پلار له خوبه را پاڅیدل جلال له کلا وتلی و او د ښار مخه یې نیولې وه

مور یې چې سهار د جلال کوټې ته ننوتله، جلال په خپله کوټه کې نه و او د مات شوی تلویزون ښیښې هر ه خوا پرتې وې ، حیرانه دریانه ودریده. په سترګو کې اوښکې راغلی، په ډیرې وارخطایې دا خبره د جلال پلار ته ورسوله ،هغه هم وارخطا شو او په دی اندیښنه کې ډوب شو چې په زوی به یې څه پیښه راغلې وي ؟.

له بلې خوا جلال تیاره ماښام ښار ته ورسیده د شپې د تیرولو له پاره ، نیغ د خپلی خور کورته ورغی.خور د ورور په لیدلو ډیره زیاته خوشحاله شوه، د کور د ټولو وړو او غټو پوښتنه یې ورنه وکړه او جلال هم د خپلې خور هرې پوښتنې ته ځواب ورکاوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور د خپل ورور ډېر قدر او عزت وکړ. چې کله ویده کېده نو ښایسته نوې بستره یې ورته وغوړوله ، په خوا کې یې اوبه ورته کېښودلې ، بیا یې د هغه د کوټې برق مړ کړ. د ښه خوب او ښې شپې هیله یې ورته څرګنده کړه او نوره خپلې کوټې لاړه.

شپه تیره شوه او چې سهار شو نو د جلال خور خپل خاوند د بازار نیږدې دوکان ته په شیدو پسې ولیږه چې نن خپل مسافر ورور ته د شیدو خوږ او مزه دار چای برابر کړي.

جلال همدا شیبه غنیمت وګڼله له خپلې بډې یې تومانچه رااوویستله، کارتوس یې وروست ،خور یې ډېره وار خطا شوه ، غږ یې پرې وکړ:

ـ جلاله وروره ! په دې تو پانچه څه کوې ؟

جلال بې له ځواب ورکولو د توپانچې ماشه کړه او درې څلور ډزې یې وکړې.

کله چې د جلال اوښی له شیدوډک لوښی په لاس ، خپل کورته راستون شو ګوری چې میرمن یې په سرو وینو کې پرته ده او جلال یې په کور نه شته

.دوه دری ساعته وروسته د هیواد په مشهورو تلویزونونو او راډیوګانو کې داسې خبر خپور شو:

- په خواشینی سره مو خبر اخیستی چې د خوږ ژبی سندر غاړی...... چې تر اوسه یې یوازې یوه سندری په تلویزون کې ثبت شوی وه. د خپل ورور له خوا په دې تور چې ولې یې په تلویزون کې سندرې ویلی ، د توپانچی په ډزو ووژل شوه.او بیا یې د وژل شوې سندرغاړې همغه سندره یو ځل بیا د تلویزون په پرده وښودله

زما د مینی نه توبه ده بیا به نه کړم مینه

د جانان مینه عجیبه ده، بیا به نه کړم مینه

15-05-2009

# د سرو زرو غاړکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو پښتو کتابونو لپاره:www.ketabton.com

د کلا تر مخ د اتڼ مست ډول وهل کېده ، ژړو او ځوانانو ورته يوې خوا بلې خوا څڼې غورځولې. د ډول غږ تر لرې لرې ځايونو رسيده. له هرې خوا نه ډلې ډلې خلک واده ته را روان و.

د کور دننه د کلي نجونې راټولې وې، د چمبې او دريا د غږ سره د بنګړو شرنګهار هم مل و ، په هر ټيکۍ کې به د (ريدي ګل) نوم يادېده. ځکه چې نن د هغه واده و.

ريدي ګل د پلار مشر زوی و. په اووم ټولګي کې يې زده کړه کوله، نوی يې شونډه توره شوې وه.د راغلو ميلمنو نه به کله نا کله يو بل غږ کړ:

ـ د واده والا چيرته دی، را يې ولی چې موږ يې وګورو.

ريدي ګل به چې داغږ واوريده، له شرمه به تک سور شو، په بيړه به يې هغه ځايه پريښود . کله به يې د کلا د يوه کنج نه او کله به يې د بل کنج نه د کليوالو داتڼ ننداره کوله، خو نژدې نه ورتللو ځکه چې له خلکو شرميده.

د واده نه وروسته دوه، درې ورځې ښوونځي ته هم لاړ نه شو ، په ښوونځي کې به ناخبره زده کونکو د يو بل نه پوښتنې کولې:

ـ دا ريدی ګل ولی ښوونځي ته نه راځي؟

ـ خدای دې خير کړي ، ريديګل ناروغه نه وي

ـ پخوا خو يې هيڅ غيرحاضري نه کوله

خبرو ټولګيوالو به يې په خندا وويل:

ـناروغه نه دی ، ښه روغ جوړ دی

ـ نوی واده يې کړی، پريږدی چې يو څو ورځی په کورتيرې کړي.

کليوالو هم د ريدی ګل د واده په اړه بيلا بيلې تبصرې کولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ پلار يې ښه کار ونه کړ چې په دومره ماشومتوب کې يې خپل زوی ته واده وکړ.

ـ ډاکټران وايي چې واده د اتلس کلنۍ نه وروسته په کار دی

ـ واده هغه وخت ښه وي چې بنيادم يې پخپله وګټي او د بل لاس ته اړ نه وي

ـ ښه يې کړي چې واده يې ورته وکړ ، ځکه زامن به يې وشی او زامن خو د پلار او نيکه مټ او بازو وي.

ـ کور کلي خو د دښمنيو ډک وي د چا چې نارينه اولاد نه وي ، په کلي کې ګذاره يې ګرانه وي

د ريدی ګل پلار هم په وروستي نظر و. ځکه خو يې خپل زوی ته په څوارلس کلنې کې واده وکړ. د يوې اونۍ رخصتۍ وروسته ، نن لومړی ورځ وه چې ريدی ګل ښوونځی ته راغلی و. کله چې به کوم ټولګيوال ورسره ټوکه ټکاله وکړه نو دريدی ګل رنګ به لکه سور انار تک سور شو او د شرمه به يې هيچا ته غړ غوړ نه کاوه.

هر چا به چې هر څه ويل ريدي ګل به پرې خپل غوږونه کڼول.د تفريح زنګ ووهل شو ، ماشومانو ټولو د کانتين خواته منډی کړی، چا يو ش او چا بل شی واخيسته ، هر يو په خوراک لګيا شو خو ريدي ګل هلته لرې، په يو کنج کې ولاړ و او د ټولو ننداره يې کوله.يو ټولګيوال ورنژد شو په خندا يې ورته وويل:

-ريدی ګله ! پخوا خو به تر هر چا نه تا زيات په کانتين کې شيان اخيستل او شخوند به دې واهه، دا نن څنګه غلی ولاړ يې؟

ريدي ګل يوازی په شونډو کې مسکی شو ، نوريې هيڅ ځواب ورنه کړ بل ټولګيوال پرې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو پښتو کتابونو لپاره:www.ketabton.com

- خیر دی که پیسی نه لری، زه به یې درکړم.
ریدی ګل ژر خپل جیب ته لاس کړ او ویې ویل:
- نه، نه! دا دی پیسی راسره شته. هره ورځ پلار یو لسګیز راکوي
- نو بیا یې ولی نه خوري؟
- هسی، زړه ته مې څه نه کیږی.
د وادہ د ورځې نه وروسته ریدي ګل بیا د ښوونځی په کانیتن کې کله هم څه وانه خیستل. یوازې به یې له ورایه د نورو ننداره کوله، که کوم ټولګیوال به څه ورکړل و به یې خوړل او که به چا څه ورنه کړل همداسې و چې شونډی به بیرته ټولګی ته ستون شو.
د هرې جمعی په ورځ به د کلی ماشومانو لوبې کولې خو د وادہ د ورځې نه وروسته بیا ریدګل چاد خپلو همځولو په منځ کې ونه لیده.
که کوم چا به د ریدی ګل د غیابت خبره وکړه نو بل به ځواب کې ورته ویل:
- هغه اوس ټوله ورځ په کور د خپلی ښځی په خواکې ناست وی، له هغه نه سړی جوړ شوی، اوس موږ او تاسو سره لوبې نه کوي.
د همځولو سره د ریدی ګل نه، هغه پخوانی لوبې ځکه پاتې وې چې هغه اوس د خپلو نویو خیالونو سره لوبیده، دهغه په لاره کې یو نوی ارمان راټوکیدلی و چې د لاس ته راوړو په لټه کې یې شپه او ورځ سوچونه کول.
د جمعې د ورځې رخصتي وه، ریدی ګل د ولسوالی په بازار ته لاړ کڅوړه په لاس کله به یې یوه دوکان او کله بل دوکان ته سر ور ښکاره کاوه او په لوړ غږبه یې دوکاندار ته داسې ویل:
- ماما! وچه ډوډی نه اخلی، په خپل لاس مې وچه کړې، ډیره ښه ډوډی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com:د نورو پښتو کتابونو لپاره

، خیر دی ارزانه به یې درکړم، ته یې یو ځل وګوره ! که خوښه دې نه شوه خیر دی بیا یې مه اخله.

خو دوکاندارانو به چا د سرپه ښورولو او چا به هم په تروه تنده یوازې د ( نه ) ځواب ورکاوه.

دیو لړ سرګردانیو وروسته ریدي ګل دولسوالۍ دبازار په یوه کنج کې دوچې ډوډۍ د خرڅولو دوکان پیدا کړ په بیه ورسره جوړشو .د خپلې کڅوړې څخه یې وچه ډوډۍ را وویستله او ددوکاندار په تله کې یې واچوله.

دوکاندار هم نغدې پیسې ورکړې. ریدې ګله په خپل جیب کې کېښودلې او په ډیرې خوښۍ کورته ستون شو.

په کورکې یې خپل بکس خلاص کړ. دا پیسې یې هم د خپلو هغو پیسو سره یو ځای کېښودې چې پلار هره ورځ ښوونځی ته د تګ په وخت کې ورکولې.

ماخوستن چې خپلې کوټې ته لاړ، ناوې یې بیا ځان مرور نیولی و. ریدی ګل چې هرڅومره د خوشامندو ډکې خبرې ورته کولې خو خپلې ناوې ځواب نه ورکولو.

له ډیرعذرو زاریو وروسته،ناوې ورو په ګیله ورته وویل:

- تا چې ما سره په اوله شپه کومه وعده کړې وه، هغه دی تر اوسه پوره نه کړه.

- کومه وعده یادوې ؟

- هغه د سرور زرو غاړکۍ درته یادوم، زما ټولې خورلڼې د سروزرو غاړکۍ لري او زه یې نه لرم .

- ته مه خپه کیږه، زه په خپله وعده اوس هم ولاړ یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نو کله به یې راته واخلی؟
- که د خدای رضا وه ډیر ژر.

د دې خبری سره سم ناوې مسکۍ شوه او د ریدګل له غاړی یې غبرګ لاسونه تاو کړل.

شپه تیره شوه خو د ریدی ګل اندیښنه نوره هم زیاته شوه ځکه چې د ښوونځی په پیسو او یا هم په پټه د کور د وچې ډوډۍ په خرڅولو د سرو زرو د غاړکی اخیستل یوازې د خوب لیدل و

نه پوهیده څه وکړی، په ټولګی کې به هم همدې فکرونو او سو چونو کې لوبیده او ښوونځی ته د تګ راتګ په لاره کې به هم په همدې فکرونو کې ځنګیده ، ټولګیوالو به یې ویل:

- نه پوهیږو چې په ریدیګل خوارکی د واده نه وروسته څه بلا راښکته شوه، نه د پخوا په شان خبرې کوي اونه یې هم په سبقونو کې مزه شته.

خو ریدی ګل هیڅکله د خپل زړه غوټه بل چاته نه سپړله. یوازې په دې هڅو کې و چې څنګه به د خپلی ناوې سره کړې وعده پوره کړی. په همدې هیله یې هرې خواد پیسو د پیداکیدو لارې، چاری لټولې.

د ورځو نه یوه روځ چې کله کلیوال د جمعی له لمونځ نه راووتل یوه تن پام شو . په لوړ غږ یې وویل:

_تاسو ګوری د چا ځنازه یې راوړه ؟

د دې خبرې سره سم ټول کلیوال وارخطا شول، یو په ورو غږ وویل:

_ خدایه خیر کړې ، ځنازه به د چا د کور تر مخ ایښودل کیږی !؟

ټول ژرژر د ځناځې په لور ورغلل، ځنازه کیښودل شو ، یو کلیوال د مړي له مخ نه ورو څادر پورته کړ، په حیرانی یې چیغه کړه:

- آخ ! دا خو ریدی ګل دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ریدی ګل پلار چې دا غږ واوریده، سپینی یې وتښتیدی، په ټول بدن یې لړزا شروع شوه، ورو یې د کلا دیوال ته ډډه وهله ، یوه ښه شیبه په خپل حال نه وا و بیا یې دغوسې نه په ډک غږ وویل:
ــ وو ایې ! زما زوی چا وژلی !؟
د ځنازی سره د راغلو کسانو څخه یو تن په خواشیني غږ وویل:
- پلاره ! ستا زوی چا نه دی وژلی، له موږ سره یې د ولسوالی په بازار کې د ورځې په ۲۰۰ افغانیو د ختو مزدوري کوله ، د لاندی نه یو تن مزدور خښتی وراچولی اوریدیګل د بام په سر نیولی. یو ه خښته یې لاس ته پوره ونه رسیده ،ریدي ګل هڅه کوله چې ویې نیسي خو هڅه یې ناکامه شوه او خوارکی د بام له سره لاندې په ځمکه راولویده، څو چې موږ راپورته کاوه، په حق رسیدلی و. الله(ج) دې هغه وبخښی او تاسو ته دې خدای اجرونه درکي. ولاړو خلکو ټولو په لوړ غږ وویل: امین.... !
۱۳۸۸حمل ۲۲ نیټه

سنفکشن کیسه

# هوایي موټر

انجنیر وحید نن بیا هم د نورو ورځو په شان ناوخته د کور تر مخ خپل موټر ودراوه ، هارنه یې وکړ . میرمن یې دتل په شان نن هم د ګراج دروازه خلاصه کړه اود بیرته ستنیدو په وخت کې یې همدومره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ یو خو ته په خبره نه پوهیږې ، سل ځله مې درته ویلي چې دا ناوخته کورته مه راځه مه راځه. خو نه پوهیږم چې تاسره په کومه ژبه خبرې وکړو ...

انجنیر وحید پوه شو چې په ناوخته راتګ یې میرمن بیا په غوسه ده خو هیڅ غږ غوږ یې ونه کړ. موټر نه راکوزشو ، دګراج دروازه یې بنده کړه، نیغ خپلې کوټې ته لاړ ،دیوې شیبې دمې وروسته یې خپل مخ او لاسونه یې په صابون ومینځل اوبیا یې پاکې جامې واغوستې ځکه چې ټوله ورځ یې په خپل موټر کې کار کړی و .

نن ورځ ډیر ستړی شوی و ، غوښتل یې ویده شي. خو د میرمنې نا کراري ور په زړه شوه ، غږ یې ورته وکړ ،میرمن یې راغله ، په غوړه مالۍ یې ورته یو څو خبرې وکړې خو میرمن یې همغسې ځان مرورنیولی و او ځواب یې نه ورکاوه. انجنیر وحید یوڅه جدي شو اوخپلې خبرې یې داسې پیل کړې:

ـ ملامته نه یې ځکه په کور کې ناسته یې ، خبره نه یې چې په دې ښار کې څه حال دی ، وایم ښار نه دی غم دی غم. پوره دوه ساعته مې مخه ډب وه اودموټرو په یو لوي کتار کې راګیر وم، موټر مې نه شاته تللی شو او نه مخکې ، دناچارۍ نه راباندې ناوخته شو.

ددې خبرې سره سم یې ، میرمن په دې باوري شوه چې میړه یې بانې نه کوي نو ورو یې وویل:

ـ ددې سپیره ښار نه به اخیر څه جوړیږي ، هر څوک همدا خبره کوي چې په ښار کې ګڼه ګوڼه ده ، په ساعتونو ساعتونو واټونه بند وي خو هیڅوک نه شته چې غم یې وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ همدې ستونزې له ما نه هم خوب وړی دی ، شپه اوورځ په همدې اندیښنه کې یم ، څه بایدوشي چې ددې غم نه زموږ ښاریان خلاصی ومومي ،ځکه ښار وړوکی دی او موټرې د یوې ورځې نه بلې زیاتیږي .

ـ دپیښې نه تیښته نه شته ، ځان نه جهان غمی مه جوړوه ، دښار واکداران نور څوک دي ، هغوي پوه شه اوکار يې.

انجنیر وحید مسکی شو او بیا یې وویل:

ـ هو ، دا سمه ده چې واکداران یې نور څوک دي خو په موږ هم دخپلو هیوادوالو خدمت فرض دی ، که د خدای رضا وه ډیر ژر به یو ښه خبر واورې

میرمن یې په حیرانۍ وپوښتل: د څه شي خبر ؟

وحید وویل:

ـ اوس یې نه درته وایم ، سبا پخپله خبره شې

ددې خبرې سره سم انجنیر وحید خپله بړستن په ځان راکش کړه ، د خپلو خیالونو په سمندر کې لاهوشو ،که څه هم ډیر ستړی و ، خوبیا هم خوب پرې خپلې وزرې ونه غوړولې ، ټوله شپه یې په ویښه تیره کړه. دسهار لمانځه د اذان سره سم یو ځل بیا ګراج ته لاړ د خپل موټر دروازه یې خلاصه کړه ، یوڅو بټنې یې ښکته پورته کړې ، بیا یې دموټر بانټ پورته کړ ، د ماشین په څو پرزو یې ګوتې ووهلې چې ښه ډاډه شو نو بیرته خپلې کوټې ته لاړ . د سباناري دخوړلو وروسته یې دفتر ته د تګ تیاری ونیو .

خپل موټریې د ګراج نه راوویستلو. بهر یې ودرولو ، یو ځل بیا دخپل موټر نه ګر د چا پیره تاوراتاو شو ، بیرتهموټر ته پورته شو ، شټرنګ ته کیناست ، موټر یې چالان کړ او د ښار په روان شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلو تلو کی د ښار مرکزی واټ ته ورسید. شیبه نه وه تیره چې بیا هم د نورو ورځو په شان د موټرو په اوږده کتار کې داسی را ګیر شو چې نه شاته او نه مخکی تللی شو.

انجنیر وحید د ځان سره پریکړه وکړه چې همدا یې د خپلو اوږ دو هلو ځلو او تجربی دپلي کولو له پاره مناسب وخت دی.

د موټر د دروازې نه یې سر بهر کړ، شا او مخه یې ښه په ځیر ځیر وکتل، وروبیې دخپل موټر ځانګړې بټنه ووهله، موټر ځای په ځای هوا ته په جګیدو شو، چې کله دځمکی نه درې څلور ګزه پورته شو، بل بټنه یې ووهله، سمدلاسه دموټر دواړو خواو ته د الوتکی په شان دوه وزری وغوړیدې. د انجنیر وحید موټر په هوا کې د الوتکې په څیر په الوتو شو. په مرکزی واټ کې ټول خلک له حیرته ورته ګوته په غاښ پاتې شول او انجنیر وحید هم له ډیرې خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایده .

خپله اختراع یې دخپلو هیوادوالو د ستونزو د حل له پاره ستره لاس ته راوړنه ګڼله ، موټر په هوا کې روان واو انجنیر وحید د خپل بریالیتوب زیری د لاس په ښورولو د ځمکی پر مخ خلکو ته رسولو.

په هوا کې دهوایي موټر په لیدو ، د ښار په امنیتی ځواکونو کې د ستر خطر د ګواښ زنګونه وشرنګیدل . د ځمکنیو اوهوا یې قو او تر منځ دمخابرو له لاری د تیارسی امرونه صادر شول. د حکومت لوړ پوړی چارواکی په ډیری چټکی له خپلو اصلی ځایونو بی ځایه شول. څوک په یوه زیرزمیني او څوک په بله زیرزمیني کې ننوتل.

ددفاع د وزارت د لوي درستیزوال له خوا هوایی او ځمکنیو قواو د چټک غبرګون قطعو ته، وروستی او قاطع امر داسی صادر شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د ښار مرکزي واټ چې د سترو دولتي چارواکو د اوسېدو ځای دی، دستر تروریستی خطر ناک بریدلاندې راغلی دی. د دفاع وزرات حکم کوی چې نوموړی هوايي موټردې ، د ځمکنيو او هوايې قواو د تشریک مساعی په نتیجه کې ډیر ژر له منځه یووړل شی.
د حکم سره سم په یو شیبه کې د ښار شین اسمان له جنګی الوتکو ډک شو او د ځمکی پر مخ د دافع هوا اوږده توپونه دمرکزی واټ په سر د ګرځنده موټر په لور توجیه شول او دسترګوپه رپ کې د انجنیر وحید هوايي موټر په هوا کې د اورپه غونډ سکه بدل شو.

د کابل ښار ـ خیر خانه مېنه
27-12-2005

# هغه اوس شپیلۍ نه شي وهلی

د سپین غره د لمنو په شنو ورشو ګانو کې د خرولو، مخککو او کستري ګلونو لوی، لوی ټلونه لیدل کیږي چې خوږ بوي یې د پسرلي دمستوورږومو په څپو کې لرې لرې ځایونه ته رسیږي.
د ګودر د کلي تنکي ځوان (( شینو )) هره ورځ د همدې ورشو په زړه راښکونکې هوا کې خپله رمه څروله او د خپلې شپیلۍ په خوږ و نغمو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د دې ورشو کاڼي او بوټي تخڼول. هغه به د خپلې شپېلۍ د نغمې پيل په دې ټپه کاوه:

سپوږمۍ کړنګ وهه را خېژه
جانان د ګلو لو کوي ګوتې ريبينه

د شينو د شپېلۍ جادو يې غږ د ګودر د کلي د ډېرو پېغلو په زړونو کې د شينو دليدلو تلوسې پارولې وي خو شينو د انځرګل ؤ. په رڼا ورځ چا نه شو ليداى. سهاربه لمر لا څېره نه وه وهلې چې هغه به د کليوالو د مالونو رمه څړ ځاى ته بيوله او د ماښام په توره لړه کې به يې بيرته کلي ته راوستله.

نن ورځ د نورو ورځو په شان نه وه. لمر سترګه لا د سپين غر په سپينه مورګه هسکه ولاړه وه اوورو، ورو يې مخه ښې ته ځان تيار اوه چې د پسرلي تاندو لنګو شويو ميږو او د هغو تنکيو ګلاليو ورکيو په خپلو رمباړو د ګودر کلی په سر واخيست.

کليوال چې په خپلو پټيو او کروندو کې په کارونو بوخت وو هر څه يې په ځاى پريښودل او په شنه منډه يې ځانونه خپلو کورونو ته ورسول چې وري او ميږې يې سره ګډنه شي په تلو تلو کې يو تن کليوال له ځان سره داسې غوريده

ـ يره ! شينو هم عجيبه شپني کوي، په رڼا ورځ يې رمه کور ته راوسته، څه وړيا خو يې راته نه پيايي، د مال په سر دوه منه غله ورکوو، که بله ورځ يې د وخته راوستله مجبور يوو چې د خپلو مالونو له پاره کوم بل شپون ونيسو ....

نن مازديګر د شينو پلار هم هلته دخپل کلي په مخ کې خپل زوى ته غاښونه چيچل او د هغه د راتلو لاره يې څارله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام تیاره شیبه په شیبه د ځمکې پرمخ خوریده خو د شینو درک نه و. د شینو کورنۍ ډیره وارخطا وه. ټول د خپلې کلا په مخ کې ولاړ وو چا یوه لاره او چا بله لاره څارله چې یو ناڅاپه غږ شو:

ــ هغه دې شینو یې په شا راوړ..... دا خو ټول په وینو سور دی..... وای خدایه! د دهٔ خو دواړه خپړې په مړوند کې نشته .... ویر او کوکې شروع شوې.....

مور یې خپل ځان په وهلو، وهلو تک شین کړ، خویندو یې په ژړا ژړا کې خپل کوڅې کوڅې ویښته راوشکول...

پلار او ورونو یې خپل استقامت د لاسه ورنه کړ. سمدلاسه بې په کټ کې کلنیک ته ور ساوه. د وینې د بندیدو نه وروسته یې په توره شپه په موټر کې د جلال آباد د ښار لوی روغتون ته ورساوه.

سهار چې کلیوال را پاڅیدل او غوښتل یې چې خپلې میړې د شینو د رمې سره یو ځای کړي نو ټول خبر شول چې شینو د غونډۍ په لمنه کې د ترموز د سر په شان کوم ناپیژندل شوی شي پیدا کړی و، د هغه سره یې ځان مشغولاوه چې یو ناڅاپه پرې چاودلی او د شینو دواړه لاسونه یې په مړوندو کې تربنه وړي دي. په همغه ځای کې بې سده پورت و. د خدای (ج) رحم و چې د بر کلي سدو پرې را پیښ شوی و اوهغه یې بیا په شا کلي ته رارسولی دي.

د دې خبر په خپریدو د کلي جوماتونه، دیرې او ژرندې ښې تودې شوې، چا به ویل:

ــ یره د شینو ښه ځواني وه، لاړه خاورې ایرې شوه.

ــ خدای خبر که ژوندی پاتې شي....

بل به پرې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ که ژوندی پاتې شي، په دې ژوند یې څه. له دینه ورته مرګ ښه و.....

بل به بیا ویل:

ـ ما سره دا سودا ده چې خوار کې به ډوډۍ څنګه خوري؟

بل به د لرې نه راغږ کړ:

ـ تر څو چې یې مور او پلار ژوندی وي خو یوه ګذاره به یې وشي خو که خدای مه کړه سبا یې مور او پلار نه وي د خوار کي ژوند به ډیر تریخ شي.....

دا ډول ډیرې پوښتنی د کلیوالو سره پیدا شوې وې خو هیچا یې ځوا ب نه شو موندلی.

شینو د څه نا څه دریو میاشتو علاج نه وروسته کور ته راغی، کلیوالو چې خبر شول ډلې ډلې د هغه سترې مه شي ته ورغلل. شینو به چې د هر چا سره روغبړ کاوه نو خوله به یې د خندا نه ډکه وه تا به ویل چې د شینو به ګوندې نوک ته هم ضرر نه وي رسېدلی. شینو د ټولو کلیوالو په مخ کې د چا یو ډک ګیلاس په خپلو دوو بې خپړو لاسونو کې د امبور په څیر ونیوه او په خوند خوند یې څو غړپونه ترینه وکړه

کلیوالو حېران دریان یو بل ته وکتل او بیا یې د ځان سره پټې پټې توبې وویستې. په دې وخت کې یوه سپن ږیري غږ کړ:

ـ شینو وراره ! زه فکر کوم ، چې زموږ لاسونه او پښې زمونږ نه دی، دا د خارجیانو دي د خارجیانو !

خلکو یو بل ته وکتل خو د سپین ږیري کا کا په خبره پوه نه شول

شینو په حیرانۍ وپوښتل : کا کا په مقصد دې پوه نه شوم ؟

سپین ږیري وویل : مطلب مې دادی وراره ! په هغه څه چې ستا لاسونه پرې شوي هغه هم زموږ خپل نه دي ، همدې خارجیانو رالیږلي ، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی داده چې یو ځل زموږ لاسونه او پښې رانه غوڅوي او بیا یې بیرته د پلاستیکو نه راته جوړه وي. کاشکې چې ته هم کومې موسسې ته تللی وای چی پلاستیکي خپړې یې درته ایښې وای

شینو په مسکا وویل: کاکا ! خپله وسه مې وکړه ، د څو موسسو دروازې مې وټکولې خو هغوي راته یوازې همدا خبره کوله ، موږ په افغانستان کې دا کار نه شو کولی

شپې او ورځې تیریدي، د خدای شان و ، شینو خپل ځان معیوب نه ګاڼه. تل به د خپلو همځولو په ډله کې ناست و او خپل پلار یې هم یوازې نه پریښوده که هغه به کروندې ته تلواو په اوږه به یې یوه او په څنګ کې به یې ماله پرته وه نو ځغ به بیا د شینو په څنګ کې پروت و. که پلار به یې خپل پټی قلبه کاوه نو شینو به بیا د پټي نه کبل راټولول او خلک به یې نندارې ته راټول وو.

د پلار سره بې د شینو د راتلونکي ژوند په هکله ډیره اندیښنه وه. کله کله به یې زړه نا زړه خپلو خپلوانو او کلیوالو په منځ کې د شینو د کوژدن خبره زمزمه کوله خو هیچا ته یې مخامخ د مرکې لیږلو جرئت نه شو کولی. وختونه تیریدل او کلیوال د شینو لوڼ همت ته ګوته په غاښ پاتې وو. د خدای کارونه وو. د بخت ډیوه یې به بلیدو شوه. یوه کلیوال خپله لور د شینو په نامه کړه.

د شینو د کوژدن خبره په ټول کلي کې خوره شوه. چا به ویل:

ـ یره ! دا خو ډیر ظلم دی. د شوټي شینو سره، به د هغې خوارکی نجلۍ عمر څنګه تیریږي؟

بل به بیا ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خدای دې د نجلي پلار ته انصاف ورکړی، په لوی لاس یې خپله لور په سره تناره کې واچوله....

چا به یو څه ویل او چا به بل څه، هر چا چې هر څه ویل دا د هغوي کارو، خو پخپله شینو د ډیرې خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایده او د خلکو د خبرو په ځواب کې به یې کله کله د ځان سره داسې ټپه زمزمه کوله:

خلک به هر څه، هر څه وایي

جانانه مه د چا منه نه به یې منمه

کله چې د شینو کوژدن وشوه نو خپل راتلونکي ژوند ته نور هم امیدواره شو. تل به یې ویل:

ـ زه باید د نورو د اوږو بار نه شم. زه باید ځانته یو مناسب کار پیدا کړم. ....

په همدې لټه او امید شینو یو ځل بیا د ګودر د کلي، میږې په شپنې و نیولې. اوس هر سهار د کلیوالو مالونه د نږدې غونډیو لمنو ته بیا یې او مازدیګر یې بیرته راولي

خو اوس شینو په شیطانه میږه د کاڼې ګوذار نه شي کړی، پخپله ور پسې منډې وهي او نه یې پریږدي چې له رمې بیله شي..

اوس د شینو سره د شپنې ډانګ نشته خو پخپلو چغو ټوله رمه اداره کوي.

اوس شینو پخپلو مهینو ګوتو شپیلۍ نه شي غږولی خو د خپلۍ شپیلۍ تنده د خپلې خولې په شپیلي ماتوي.

هغه اوس په خپل شپیلي کې دا ټپه زمزمه کوي:

سپوږمۍ په مادې څه احسان دی

زما جانان د دیوالو سپورو ته ځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۷۷ل کال
ننګرهار_ هسکه مينه

# د دوبۍ سفر

...هلو ! هلو ! د ا هوايي ډګر دی ؟... بخښنه غواړم سبا جاز دوبی ته په ټاکلي وخت ځي او که په پروګرام کې څه تغيير راغلی ؟ ... ښه ښه پوه شوم ، ډېره مهرباني ، د ځواب نه مو مننه..

جانان غوږی بيرته په خپل ځای کېښود او بيا يې خاني ته په غوصه وويل :

ما درته ويل چې همغه زړه خبره ده ، خو ته سودايي يې سودايي ، خپله کوې او د بل نه اورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاني په مسکا وويل:

ـ جانانه خپه کيږه مه، د مرګ او ژوند خبره ده ، احتياط ښه شی دی .

او بيا يې خپله خبره داسې بدله کړه:

ـ تا په خپل سفري بکس کې شيان ځای په ځای کړی که نه ؟

جانان وويل:

ـ هو ، له مانه بيغمه اوسه ، خو ته هم ځان تياروه ، ځکه سهار د وخته ځو ، هغه وخت دې بيا انې بانې نه منم.

خاني وويل:

ـ سمه ده ، زه به همدا اوس خپل هرڅه ځای په ځای کړم

ژر ژر يې خپل بکس خلاص کړ ، د غاښو کريم ، د ږيرې خريلو ماشين دسمال او نور ضروري شيان يې يو په يو په خپل بکس کې کيښودل او بيا يې وويل:

ـ ته ګوره جانانه يا ره ، زما خو لومړی سفر دی ، دومره ښه نه پوهيږم ، دا شيان سم شو او که څه کم دي ؟

جانان له خپله ځايه راپورته شو ، د خاني بکس يې ښکته پورته وکوت او بيا يې وويل:

ـ بس هر څه دې پوره دي ، نور يې بند ه وه، خو يوه خبره په ياد لره او هغه داد ه چې په ميدان کې وار خطاه نه شې

خاني په خندا کې خپله خبره داسې ورغبرګه کړه:

ـ غم مه کوه ! څوک چې اوښان ساتي دروازې لوړې جوړوي. دومره نو بې زړه هم نه يم، لکه څومره چې ته فکر کوې.

جانان په خندا شو او و يې ويل: نو بيا واچوه پنجه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې سره سم ددواړو يارانو د لاسونو پړک پورته شو .او خاني ور زياته کړه:

ـ سبا به دا وخت که د خدای رضا وه په دوبۍ کې ناست يو ، زه او ته به بيا نورې خبرې هلته کوو ، که اوس دې خوښه وي ويده به شو ، هسې نه چې سبا زه او ته ويده يو او جاز رانه الوتې وي.

جانان وويل: خانيه ! زما په زړه خبره دې وکړه، ربښتيا هم جاز سهار له وخته ځي بس تر سهاره د خدای په امان.

دواړو برستنې په سر راکش کړې. خاني ډيره هڅه وکړه چې ويده شي خو د ډيرو سوداګانو اوچرتونو له لاسه خوب نه ورتلو ، کله په يوه اړخ او کله په بل اړخ اوښته ، ټوله شپه د رنګا رنګ سو چونو او خيالونو سره لوبيده. پخه شپه چې يې ملګري له برستنې سر راوويست ، ګوري خانی ويښ دی. پوښتنه يې ورنه وکړه:

ـ ته لا اوس هم ويښ يې،داد څه شي سوچونه وهی ؟

خاني په خندا ځواب ورکړ:

ـ سوچونه ډير دي خو وروستی سوچ مې دا وه چې د ددوبۍ نه بيرته راغلی وم شم لومړی مې د ځان له پاره يوه ښه مانۍ جوړه کړه، دوه درې نوکران مې ونيول ، اخرين ماډل موټر مې واخيست. هغه مې کورته راوست ، هارنډ مې ووهه ، نوکر د کور لويه دروازه خلاصه کړه ،کله چې له موټر نه را ښکته کيدم ، بس تا غږ وکړ

جانان بيرته سر په برستن کې تاو کړ ، او خاني ته يې وويل:

غوا لا حلاله نه ده او تا خانک په سر نيولی. ويده شه ويده ! ځان نه ليونی مه جوړوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاني ورته ښه وکړه ، سر یې برېستن ته ور دننه کړ خو خوب کله ورته ؟ ډیر وخت بیا هم په چرتونو کې ډوب و ، نا څاپه ور په زړه شول، هسې نه چې سهار شوی وي . ژر یې سر له برېستنې راوویست، سترګې یې په دیوالي ساعت ښخې کړې ، د جاز الوتلوته پوره دري ساعته پاتې وو. دوی ته د ټکټ د اخیستو په مهال ویل شوی و چې د الوتنې د وخت نه به درې ساعته د مخه هوایي ډګر ته راځی. ژر ژر یې خپل ملګری له خوبه راویښ او ورته و یې ویل:

هله ژر شه پاڅیږه ! وخت لږ پاتې دی، تر څو چې زه او ته ځان برابره و ، وخت پوره کیږی.

جانان غزونی وکړل. بیا یې د خپل لاس ساعت ته وکتل او زیاته یې کړه:

ـ سمه ده، هغه جیګ له اوبو نه را ډک کړه چې خپله خوراکه د اوبو سره وخورو.

خاني وویل: د اوبوغم مې لا د شپې خوړلی ، خو دا ووایه چې یو ځل به بیاهم تلیفون وکړو ، چې ښه ډاډه شو نو بیا به خواړه خورو ، څنګه دې خو ښه ده ؟

جانان په قهر شو، او زیاته یې کړه: خانیه ! تا هسې د ځان نه سودایي جوړ کړی، په ډیرو تلیفونونو کیدای شی څوک را باندې شکمن شي. ښه به داوي چې نور دا فکر له سره وباسې.

خاني زړه نازړه ښه ورته وکړه او بیا یې ورو داوبو ډک ګیلاس ځانه ته نیژدې کړ.

د څښاک او خوراک نه وروسته دواړو خپل سفري بکسونه په لاسونو کې ونیول او په یوه زاړه ټکسی کې یې ځان هوایي ډګر ته ورساوه. سالون ته د ننوتو سره سم یې تر هر څه دمخه لومړی په مخامخ دړه د الوتنی پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکوت، ډېر خوشاله شول ځکه هر څه نورمال و او الوتکې په خپل وخت الوتنه لرله. بیا یې خپل بکسونه د تلاشۍ له پاره وړاندې کړل. بکسونه چک شول ، یو یو ټکټ یې په بکسونو پورې ونښلاوه او د هغو یوه یوه کاپي یې دوي ته ورکړه ، د تالاشۍ مسول ورته وویل : دا ټکټونه به سمبال وساتی ، کله چې په دوبۍ کې د هوائې ډګر نه وتلی نو دا ټکټونه به هغوي ته ښکاره کړی او بیا به خپل بکسونه دځان سره یوسی .
جانان په ځواب کې ورته وویل:
ـ بیغمه اوسه ، دومره نابلده نه یم، پخوا مې هم ډیر سفر ونه کړی.....
جانان او خانی بیادواړه د پاسپورت شعبې ته ودریدل اوخپل پاسپورتونه یې د وړې کړکۍ له لارې پولیسو ته وړاندې کړل. یوه شیبه وروسته خروجي ویزه ولګیده ، د سرحدي پولیسو د کلکې تالاشۍ نه وروسته د انتظار سالون ته داخل شول. دواړه ډیر خوشحاله و، ځکه هر څه یې تر اوسه سم روان و. د ټولو مسافرو د راننوتلو سره سم دسالون دروازه د بهر په لور خلاصه شوه، مسافر لکه یو ستوی لیک یو په بل پسې د الوتکې په لور روان شول. ټول په خپلو څوکیو کیناسل. د الوتکې دروازی بندې شوې، حرکت یې وکړ چې سل دوه سوه متره په مځکه لاړه ، الوتکه بیر ته را ستنه سوه. د پیلوټ له کابینه داسې اعلان و شو:
ـ ټولو مسافرو ته خبر ورکول کیږي چې الوتکه تخنیکی ستونزه لري، مهرباني وکړی، بیرته د انتظار سالون ته لاړ شي. کله چې ستونزه لرې شوه ، بیا به تاسو ته خبر در کړل شي.
ددې اعلان سره سم په خاني او ملګری مرې خولې را ماتې شوې، یو بل ته یې په حیرانۍ حیرانۍ کتل. ، ټولې سورلۍ د الوتکې نه راښکته شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیرته د انتظار په سالون کې ځای په ځای شوې. خانی ډیر وارخطا وه خو جانان ډاډورکاوه چې ښایې ستونره غټه نه وي ، امید دی الوتکه ژر د الوتنی له پاره چمتو شي.

یو ساعت تیر شو ، دوه تیر شول، درې شول، ځلور شول خو بیا هم د الوتکی د الوتنې څه درک نه لګیده . په خا نې عصبي شوک را غی بې اختیاره یې چغه کړه:

ـ د خدای له پاره ، دا تاسو په موږ څه ملنډې وهی ، اخیر څومره انتظار ... زه نور دلته د کیناسو حوصله نه لرم ، بیلوټ څه شو ، ورته ووایی چې الوتکه چالان کړی، الو تکه...

د سالون یو تن مسول په لاسینه ، هغه حوصله مندی ته را وبللو او ډاډ یې ورکړ چې یو ساعت وروسته به الوتکه خامخا د الوتنی له پاره چمتو شي. همداسې وشول ، دپنځو ساعتونو له ځنډ وروسته الوتکه د هوایي ډګر څخه پورته شوه.

خو کله چې الوتکه د دوبۍ په هوایي ډګر کې په ځمکه کیناستله نو ورسره سم یو امبولانس اویو بس سرویس د الوتکی مخ ته ودریدل. نور مسافر بس ته وختل خو خانی او جانان په امبولانس کې روغتون ته ولیږدول شول.

خاني خپله ساه په لاره کې ورکړه خوجانان بې هوښه روغتون ته ورسول شو . د معدی د پرینمځلو وروسته هغه له مرګه وژغورل شو. خو کله چې په هوښ راغی ، دوه درې پولیس یې سر ته ولاړو.

د ډاکټر نه یې د پیښې رپورټ وغوښت. ډاکټر ورته خپل رپوټ داسې ورکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هغه مړشوی شخص اودا ناروغ چې دلته لهمونږ سره بستر دی دواړه ملګري وو ، هره یوه د الوتنی څخه د مخه ، ددیرشو په شاوخوا کې کپسولونه ، د ستوني له لارې معدې ته تیر کړي و و چې په هر کپسول کې په پوره اندازه ( د هیروینو پوډر ) ځای په ځای شوي و. هغوي په خپله محاسبه کې بریالي وو ځکه تر لنډې او ټاکلې مودې پورې یې د اغیزې مخنیوی په نظر کې نیول شوی و. د معلوماتو له مخې د هغوي احتیاطي تدابیر او محاسبه هغه وخت ګډه وډه شوه چې کله الوتکه دخپل وخت نه پنځه ساعته زیاته و ځنډیدله او بیا یې ورته هغه کپسولونه په مخ کې کیښودل کوم چې ډاکټر د جانان له معدې نه روغ را ایستلي وو .

## د وینو څاڅکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مازدیګر مهال و ، مامورین نوي له دفترونو څخه راوتلي وو ، د چا په لاس کې تازه ترکاري ، د چاسره تازه میوه او د چا سره هم د ټوټو په کڅوړو کې چارک ، نیمن الوګان وو ، هرچا هیله لرله ژر خپل کور ته ځان ورسوي.

د کابل ښار دده افغانانو په سیمه کې ، د خیر خانې مینې په تم ځای کې شیبه په شیبه د خلکو ګڼه ګوڼه زیاتیده ، د ملي بسونو درک نه و. که کوم یو به را پیدا شو ، دومره بیروبار به پرې جوړ شو چې یوازې به زلمي او غښتلي کسان پورته شول خو ماشومان ، بوډاګان او ښځې به ټولې اریانې دریانې ولاړې وې.

شیبه په شیبه د خلکو ګڼه ګوڼه نوره هم زیاتیده. ناڅاپه د کابل د شاوخوا د پرتو غرونو تر شاه ، له ورایه د یو دروند غږ راپورته شو د سترګو په رپ کې دخیرخانې مېنې په تم ځای کې یې داسې کړنګ وکړ چې د چا خبره د غوږونو پردې یې څیرولې.

د راکټ د ډز سره سم د خیر خانې مېنې په تم ځای کې ولاړ کسان په ځمکه داسې سترې ولویدل لکه لوګری چې په پټي کې غنم وریبي.

شیبه نه وه تیره چې د امبولانسونو غږ د کابل ښار فضا په سر وا خیسته. د څارندوی (پولیس) ټولي هم په ډکو ډکو موټرو کې سیمې ته راورسیدل ، سیمه یې تر خپلې ولکې لاندې راوستله. ښاریان هم د مرستې له پاره راورسیدل ، هر چا هڅه کوله چې مړي او ټپیان ژرترژره ، امبولانسونو ته پورته کړي . ویر او ماتم ګډ وو. د ښځو او ماشومانو ژړا ګانو ، د ټپیانو زګیرویو او دخلکو دویرې اوترهې غږونو د خیرخانې مینې په تم ځای کې سم دم قیامت جوړ کړی و. په دغسې زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوږنونکي ماتم کې ، يوې ښځې چې توره څادري يې اغوستې وه او د وينو څاڅکو ورپسې لاره جوړه کړې وه ، غوښتل يې په بيړه د خير خانې د موټرو له تم ځای نه ځان وباسي. د څارندويو يو تن پرې پام شو او په منډه يې ځان ورورساوه :

ـ خورې ودرېږه ! نه ګورې وينې درنه روانې دي ، هله ژر شه ، امبولانس ته وخيژه چې روغتون ته دې ورسوو.

د تورې څادرۍ والا ښځې هيڅ غږ غوږ ونه کړ ، او په خپله لاره روانه شوه . د څارندوي کارکونکي د خپل ځنګ ملګري ته وويل:

ـ ماته ښکاري دا ښځه په توده کې ده او په ځان نه پوهيږي زه خو وايم وربه شم او په زور به يې مخه ونيسم.

ـ ښه خبره ده ، ورشه او مجبوره يې کړه چې امبولانس ته پورته شي.

څارندوي په چټکې څادري والا ښځې ته ځان ورورساوه ، تر مخ يې ودريده ، په لاسينه يې ورته وويل:

ـ خورې ! تاته وايم ! په ځان پوهيږې که نه ، وينې درنه څاڅي وينې ! يو ځل ځان وګوره ، معلوميږي چې سخته ټپي شوې يې...

څادري والا ښځې ځان ته ښکته پورته وکتل او بيا يې په وار خطايې وويل:

ـ نه نه ، زه جوړه يم، له مخې مې لرې شه ، زه کورته ځان رسوم .

ـ معلوميږي چې ماغزه دې کار نه کوي، زه درته وايم چې له تانه وينې څاڅي او ته وايې چې روغه يم...

خو څادري والاښځې بيا هم ټينګار کاوه او همدا يوه خبره يې تکراروله

ـمخې مې لرې شی ، زه جوړه يم هيڅ راباندې نه دي شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



.ځارندوي فکر وکړ چې د ښځې ماغزه په رښتيا هم کار نه ورکوي. ژر يې ټوپک اوږې ته کړ او دواړه لاسو نه يې د ښځې تر مخ پراخ ونيول
ـ وايم نه شې تللی ، ته ټپي يې مجبوره يې چې امبولانس ته وخيژې او روغتون ته لاړه شې

خو د تورې ځادرۍ والا ښځې بيا هم د ځارندوي خبره ونه منله او د تيښتې هڅه يې پيل کړه.

ځارندوي له مجبوريته هغه د لاس نه کلکه ونيوله او د ځان پسې يې کش کړه.

ښځې چغې او کوکې پيل کړې او ځارندوي يې په دې تورن کړ چې هغه غواړي په زور يې روغتون ته بوځي.

له هرې خوا نه خلک پرې راټول شول ، ګڼه ګوڼه زياته شوه ، د ښځې او ځارندوي تر منځ کش او ګير همغسې روان و چې نا څاپه د ښځې له لاسه يو شی په ځمکه ولويد .


ځارندوي په بيړه هغه راپورته کړ ، ګوري چې د راکټ په چرو ديوې ښځې پرې شوی لاس د ی چې په مړوند يې د سروزربنګړي او په ګوتو يې د سروزرو ګوتې دي.

۱۳۶۲ل کال ـ کابل

# وروستۍ ليک

(c) ketabton.com: The Digital Library





ملا صیب جمعې د مبارکې ورځې د لمانځه د اداکولو له پاره خپلو مقتدیانو ته د نیت ترلو هدایت ورکړ ، کلیوالو خپل صفونه برابرول چې نا څاپه له کومې خوا غږ شو:

ـ ملا صیب لږ صبر چې حاجي صیب کمال رارواں دی.

ملا صیب هم بې له ځنډه وویل:

ـ ښه ده ، ډیره ښه ده ، هلکانو ! حاجي صیب ته لاره ورکړې چې اول صف ته راشي.

حاجي صیب راورسیده او د ملا صیب تر شا په لومړي صف کې ودریده ، . لمونځ وشو ، خطبه هم وویل شوه او ملا صیب د دوعا په وروستۍ برخه کې داسې وویل:

:... الهي ! بندیان د بنده خلاص کړی ، قرضداران له قرضه ، ناروغانو ته شفا ورکړې اودهغوټولو دین اودنیا ښایسته کړې څوک چې ددین د خادمانو اود خدای (ج) دکور جومات خدمت ته لاس په نامه ولاړ وي . الهي ته ددغسې کسانو ددې دنیا په مال او شتو کې برکت واچوې او په هغې دنیا کې یې جنت فردوس په نصیب کړې.

په جومات کې ناستو کسانو په لوړ غږ وویل : امین ، امین.. ! .

ملاصیب زیاته کړه:

...ورونو او عزیزانو ! پته دې پاتې نه وي چې حاجي صیب کمال خان زموږ او ستاسو په منځ کې هغه څوک دی چې دغسې نیک او دثواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه یې په ځان فرض ګڼلي ، همدا نن چې تاسو په دې جامع جومات کې په کوم ښکلي ، ښایسته او قیمتي فرش باندې د الله تعالی فرض ادا کوی دا هم حاجي صیب کمال له خپله جیبه اخیستي ، الله تعالی دې د حاجي صیب دین او دنیا دواړه ښکلې
کړي امین یا ربالعالمین !
ددوعا له خلاصیدو سره سم کلیوال له خپلو ځایونو پورته شول او یو یو له جومات نه ووت خو حاجي صیب لا په خپل ځای دروند ناست و اوتسپې یې اړولې. ټول کلیوال چې لاړل نو حاجي صیب کمال خان هم راپورته شو ، جیب ته یې لاس کړ او یو څوروپی یې د ملا صیب په لاس کې و ټومبلی. ملا صیب ست او سلا وکړه خو حاجي صیب په ځواب کې ورته وویل : غږ به نه کوې ملا صیب ، دا ستاسو په موږ حق دي ، ستا غاړه دې بنده وي ، که کوم شي ته دې اړتیا وه او په ما غږ و نه کړې.
ملا صیب د وښکیو په خندا کې بس همدا ویل:
سبحان الله ، ما شا الله !.الله دې دین او دنیا دواړه ښایسته کړه....
په کلی کې داسې دیره او حجره نه وه چې د جومات سره به د حاجی صیب د زیاتو مرستو او کومکونو په اړه تبصره نه کیدله ، چا به یو څه ویل او چا به بل څه ، ځنو خو به لا دا تبی هم په کې وکړ:
... اشنا پام دی شته ! دین او دنیا دواړه د شنمنو خلکو ده. په دی دنیا هم خلک ورته لاس په نامه ولاړ وي او د هغې دنیا توښه خو د خپلو پیسو په مرسته برابروي ، خیرات دوي ورکوي ، زکات دوي ورکوي ، د خوار او غریب سره دوي کومک کوي ، د حج مبارک فریضه دوي ادا کوي .... بل به غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ښه وايې ! غريب خلک خو نه د دين شو او نه د سادين ، بس موږ به دوعا کوو چې الله اتعالی دې موږ خوشی په خوشې وبخښی.

حاجی صيب د عمر له پلوه پوخ سړی و . زيات وخت به يې په مسافری کې تيرولو خو چې به کلي ته را ستون شو نو بس د جومات په ملا او چړيا نو به اخترو. ځکه هغه ددوي ډير زيات خيال ساته.کمال خان به تل د خپلو يارانواودوستانو په منځ کې دا خبره کوله چې د کلي له ملا به ځان ساتی هغه که د جومات د منبر له پاسه څوک په ښه او دروند نامه ياد کړې نو بيا يې هيڅوک په سپک نامه نه شي يادولی.

دا ځل چې حاجی صيب کمال خان نوی له مسافرۍ نه را ستون شوی و نو د پخوا په شان يې بيا هم ملا صيب ته د شپې ډوډوۍ بلنه ورکړه . ملا صيب هم دهغه بلنه ومنله او د ما ښام د لمانځه نه وروسته د خپلو څو چړيانو سره يو ځای د حاجی صيب کورته ورغلل.

حاجی صيب د هغوی تو د هرکلی وکړ. په لړه شيبه کې په لوي او پراخه دستر خوان د خدای داسې نعمتونه کيښودل شول چې د چا خبره يوازی د مرغۍ پۍ به په کې نه و.

ملاصيب او ورسره چړيانو يې يو بل ته په وښکيو کې مسکي شول او په اشارو اشارو کې يې يو يل ته دا اشاره ورسوله چې نورنو ورته مه ګوری. د ډوډۍ په خوړلو پيل وشو ، د يو څو نمړيو نه وروسته د ملا صيب پام شو چې حاجی صيب کمال خان هلته لرې ناست دی . ملا صيب په حيرانۍ ورنه وپوښتل:

ـ حاجی صيب ته ولې ډوډۍنه خورې ؟ په ګډه د ډوډۍ خوراک ثواب لری، راځی له دې ثوابه ځان مه محروموی.

حاجي صيب چې تسپې اړولې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاصیب نن عذر لرم او هغه دا چې زه پرهیزیم ، کنه تاسو می کله یوازې پریښودی .ملا په حیرانۍ پوښتنه وکړه:
خیریت خو به وي حاجی صیب ، څه تکلیف لری؟
حاجی صیب سوړ اسویلی و ویست او بیا یې وویل:
ـ ملا صیب ! بس دوعا ګانې راته کوې، تکلیف مې ډیر خطر ناک دی ، ډاکترانو راته ویلی چې په معده کې مې (( رسولۍ )) دي او هغه باید عملیات شی . سبا ته په خیر سره هندوستان ته د سفر نیت لرم که د خدای رضاوه .بس هلته به علاج کوم . ملا صیب په دغسې وختونو کې مې یوازې ستاسو دوعاګانی په کار دي اوبس .
ملا صیب چې ډوډي خوړله په ډکه خوله یې لومړی خپله خواشیني او بیا خپله همدردي داسې وښودله:
ـ حاجي صیب ! زموږ په وس غیر له دوعا ګانو نه نور څه پوره دي ؟ ته هیڅ غم مه کوه. که د خدای رضا وه موږ به سبا ستاسو د شفا اوښه صحت یابۍ په حق کې د قران شریف یوختم وکړو او بیا یې خپلو چړیانو ته مخ کړ: هلکانو ! وامو وریدل ؟ سبا چې ورک نه شی ... چړیانو هم د تایید سرورنه وخوځول.
د تګ په وخت کې حاجی صیب ورو جیب ته لاس کړ او د پیسو یو بنډل یې د ملا صیب په جیب کې کیښود او زیاته یې کړه: ملاصیب ! دا به درسره واخلې، کله چې مو سبا ختم شریف سرته ورساوه نودا یو څه پیسې به ، زما له خوا په دې چړیانو خیرات وویشې او چې څومره پاتې شوې هغه به دجومات د اړتیاو له پاره د ځان سره وساتې. ملاصیب چې په خپل جیب کې په پیسو لاس واهه وویل:
ـ ماشاالله ! ډیره ښه ده ، څنګه چې ستا رضا وي همغسې به وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ورځ حاجی صیب د هندوستان په لور روان شو او ملا صیب د وعدې سره سم په خپل جومات کې د قران شریف ختم ادا ، او د حاجي صیب د روغتیا په حق کې یې ښې ډیرې دوعاګانې وکړې.

حاجی صیب پوره یوه میاشت په هندوستان کې تیره کړه کله چې بیرته ته راستون شو، نو ډلی ډلی کلیوال یې پوښتنی ته ور تلل او هر چا به ورنه دا پوښتنه کوله چې حاجي صیب عملیات مو څنګه تیر شول ؟

حاجی صیب به په ځواب کې بس همدا یوه خبره کوله:

ـ دا خو ستا سو د دوعاګانو برکت و ، عملیاتو ته اړتیا پیدا نه شوه، ناروغي مې د خدای تعالی (ج ) په فضل او کرم د دارو په وسیله جوړه شوه.....

شپې او ورځی تیریدې د حاجی صیب شتمني له یوی ورځې نه بلې ته زیاتیدله. زامن یې په کلی کې لکه شهزاده ګان داسی ګرځیدل. په ودونو او ښادیو کې به دحاجي صیب لورانودومره ګا ڼې په ځان راا چولې وې چې د کلي نجونو به له حسده ورته کتلی نه شول.. یوې نیمې خو به لا ویل :

... خورې ! په نوم واده مې د حاجی صیب د لورانو له لاسه بد ایسي دهغو ګاڼو ته چې ګورو موږ ته خپل ځان ډیر سپک ښکاري.

د ورځو نه یو ورځ حاجي صیب بیا د سفر نیت وکړ.دا خبره یې لومړی د کلی د ملاصیب سره شریکه کړه او هغه ته یې داسې وویل: ملاصیب ! ما خو د عمرې شریفی د ادا کولو نیت کړی. که څه شی ته ضرورت لری، همدا اوس یې راته ووایه، بیا دې ګوره ګیله نه منم.

ملاصیب مسکی شو او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ حاجي صيب څومره بختور سړی يې ، ډير پاک ځای ته روان يې ، الله تعالی دې زموږ هم نصيب په کې و کړي ، نور څه می نه دی په کار، بس يو ښايسته جيبي شو بيني ساعت به راته راوړې. هغه په دې ښه دی چې کله زه سهار وختي د اذان او لمانځه لپاره پاځيږم، نو هغه وخت تياره وي او په دغسې وختونو کې شوبيني ساعتونه ډير ښه کار کوي. حاجی صيب په پوره ډاډ ورته وويل:

ملا صيب ! بې غمه اوسه ، ساعت ساده خبره ده او بيا يې ورنه غاړه په غاړه ښه تو ده مخه ښه وا خيستله.

. حاجی صيب دوه درې مياشتی په سعو دی عربستان کې وځنډيده ، د کورنۍ سره يې ډيره زياته اند يښنه وه. ملاصيب به يې هم کله نا کله له زا منو څخه پوښتنه کوله چې پلار مو راغلی که نه؟ خو هغوی به هر ځل ورته د نه ځواب ورکاوه.

د ورځو نه يوه ورځ د مازيګر لمانځه نه وروسته ټول کليوال د ملا صيب په ګډون د جومات د پيتاوی غاړې ته ناست وو. په دې وخت کې يو نابلده سړی راغی او د سلام نه وروسته يې د جيب نه يو کاغذ را وويست او ويې ويل:

ـ زه څو ورځې د مخه د سعودي عربستان نه راغلی يم. او ستا سو د يوه کليوال ليک مې راوړی. نوم يې حاجی صيب کمال خان دی. هيله ده چې دا د هغه کورنۍ ته ورسوی.

په ناستو کسانو کې د حاجی صيب مشر زوی هم ناست و، په بيړه او خوشالۍ يې د هغه نه ليک واخيست. ژر يې پرانيست چې يو دوه کرښی يې ولوستلی ناڅاپه يې له خولۍ نه يوه کړيکه ووتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوال ټول حيران شول. د حاجی صيب زوی نه يې د علت پوښتنه وکړه، خو هغه په داسی حال کې چې په چيغو چيغو يې ژړل، هيچا ته يې ځواب ورنه کړ او نيغ يې د خپل کور مخه ونيوله. کليوالو يو بل ته حيران حيران وکتل او هيڅوک نه پوهيدل چې په حاجی صيب به څه راغلی وي؟

د ناستو کسانو څخه يو تن د ليک را وړونکی څخه پوښتنه وکړه: وروره خيريت خو به و ، په ليک کې حاچي صيب څه ليکلي و، چې زوي يې دومره وار خطا شو ؟

ليک را وړونکی وويل: حاجی صيب کمال خان په عربستان کې د ( پوډرو ) په قا چاق کې نيول شوی ، د عربستان حکومت وربانديې د مرګ سزا خيژولې، کيدای شي يا يې اعدام کړي وي او يا به يې په نن سبا کې اعداموي. په ليک کې يې خپلې کورنۍ ته خبر ورکړای چې نور نود هغه د راستنيدو په تمه نه شي .

ناست خلک ټول هک پک پاتې شول ، يو بل ته يې حيرا حيران کتل او د هيچا له خولې نه سپوږ نه خوت. خو .ملاصيب دا سکون مات کړ. په داسې حال کې چې دواړه لاسونه يې اسمان ته نيولی و . وويل:

ـ توبه خدايه توبه ! لويه خدايه ! ستا ځنې بندګان څومره رياکاره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنفکشن

# د شین ځنګل په ټاپو کې

د ډاکټر لمر به سپینه چپنه تل په غاړه وه ، سپینو اوږدو ویښتانو یې غوړ.ونه پټ کړي وو .خبرې یې کمې او فکر یې زیات کاوه .
خپلې لوړې زده کړې د فارمسي ( دارو جوړونې ) په څانګه کې پای ته رسولې وې.د نړۍ په بیلابیلو پرمختللو صنعتي هیوادونو کې یې ډیرکلونه کارکړی و او په سترو علمی سیمنارونو کې یې هم ځو ځو واره برخه اخیستی وه. د پوره علمی صلاحیت او تجربې خاوند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکتر لمر په زړه کې د کلونو کلونو را په دېخوا یوه ستره ارزو او سیده او دهغې دلاس ته راوړنې له پاره یې، د خپل ژوند پاتې برخه د سمندرونو اخوا د شین ځنګل په ټاپو کې غوره وبلله.

هغه جونګړه د شین تاپو په ځنګل کې دیوې وړې غونډۍ په سر اباده وه سهار به چې له خپلې جونګړې راووت نو ترمابنامه به د شین ځنګل په غرو او رغونو کې د دارویي بوټو په راټولولو اخته و. د شپې له خوابه یې هغه بوټي د خپلې جونګړې په کوچنی لابراتوار کې د ازموینی لاندې نیول. هره ورځ او هره شپه یې همدا مشغولا وه.

د شین ځنګل د ټاپو او سیدونکو به ډاکتر لمر، د ډاکتر لیونی په نامه یا داوه. ځکه دهغه ټول کړه وړه د ټاپو د اوسیدونکو له پاره نا اشنا او د حیرانی نه ډک وو.

نن چې شپه له نیمایی اوختې وه ، ناڅاپه د ډاکتر لمر په جونګړه کې کله د خندا او کله هم د ژړا انګولا وې پورته شوې.

ګاونډیانو سخت وارخطا شول ، په بیړه یې ځانونه وررسول...

. ګوری چې ډاکتر لمر په کوټه کې یوه مړه ښکته پورته ګرځي او ډاکتر لمر هم کله ورته وژاړي او کله ورته داسې خاندی چې ته به وایې د دنیا تر ټولو قیمتی شی یې په لاس راوړی دی.

ګاونډیان ورته هک پک پاتې شول ،له یوی ښی شیبې ننداری وروسته ، یوه ګاونډي ورنه پوښتنه وکړه:

ـ ډاکتر لمر ! څه خبره ده چې په توره شپه مو د شین ځنګل د ټاپو اوسیدونکي په خپله ژړا او خندا د حیرت سره مخامخ کړي دي ؟

ډاکتر لمر په خپلې خوشحالې کې دومره ډوب وچې د هغه خبره یې نه اوریده ،یوازې یې همدا خبره تکرار وله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زه بريالی شوم، زه کامياب شوم.....

او کله نا کله به يې بيا ، په لوړ اواز چغې کړې

ـ راشی ! راشی !هلی !هلی !دا ځوانه مړه وګوری ! دا پرون داسې نه وه ، زړه بوډۍ وه ، په لاره نه شوه تللی، خو اوس دادی ځوانه ده، مستې کوي، ټوپونه وهی........

ګاونډيانو به يو بل ته په تعجب وکتل ، نه پوهيدل چې ډاکټر لمر څه وايي.... ټول د خپلو کورونو په لور روان شول. په تلو تلو کې به ، يو بل داخبره هم کوله ډاکټر لمر پخوا لږ ليونی و خو اوس لکه چې پوره ليونی شوی. خدای دې پرې ورحميږی.

سبا چې د لمر ځيرې د شين ځنګل د ټاپو په هسکو او دنګو ونو، خپلی وزرې وغوړولی نوډاکټر لمر هم له خپلې جونګړې راووتلو ، خو نن ډاکټر لمر هغه پرونی بوډا ډاکټر لمرنه و، هغه اوس پوره ځوارلس کلن ځوان و ، اوږده تور ويښته او ښايسته ځواني وه ....

خلک ورته هک پک پاتی وو اوپه حيرانی يي ، له هغه نه د خپلې د ځوانۍ د راز پوښتنه وکړه. ډاکټر لمر په خوښی ورته وويل:

ـ ډير کلونه په همدې بوخت وم چې يو ډول داسی دارو جوړ کړم چې هغه د انسان دزړښت دوره بيرته په ځوانی بدله کړی او له نيکه مرغه دادی پرونی اوويا کلن زړو بوډا ډاکټر لمر اوس تاسو ځوارلس کلن ډاکټر په خيره کې ګوری..

د ډاکټر لمر د بيا ځوانۍ د دارودکشف خبرونه په ټوله نړۍ کې خپاره شول. څو ورځې نه وې تيرې چې د شين ځنګل د ټاپو فضا د نړۍ د سترو پانګوالو په هليکوپترو ډکه شوه. هر چا د خپل ځان سره په بوجيو بوجيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې راوړې وې او هر چا غوښتل چې د پیسو په بدل کې د ډاکټر لمرنه د ځوانۍ دارو واخلي.
خو ډاکټر لمر د نغدو پیسو له اخیستلو نه انکار وکړ. هغه ټولو پانکوالو ته وویل:
ـ دځوانۍ دارو دهمدې شین ځنګل د وروسته پاتې ټاپو ملکیت دی هرچا چېددې ټاپو په ابادۍ کې برخه واخیسته نو هغه ته به د ځوانۍ دارو ورکول کیږي...
ډاکټرلمر دشین ځنګل ټاپو په څلورو برخو شمال، جنوب، لویدزاو ختیز وویشه او هره برخه یې څو پانګوالو ته وسپارله ، او دا شرط یې ورباندی کیښود هر چا چې خپله ورسپارل شوی برخه د بشري ژوند د ټولو ضروری اړتیاوله مخي ښه جوړه کړه، نو هغه به د ځوانی دارو د ځان سره وړي.
پانګوال بیرته ستانه شول او دا ځل یې د نغدو پیسو په ځای د ځان سره د ساختماني چارو ماشینونه راوړل.
څو ورځې نه وې تیرې چې د شین ځنګل په ټاپو کې هری خواته د بلدوزرواو ټراکټورونو غرهار ځمکه او اسمان په سر واخیست.
چا سرکونه جوړول ، چا کورونه ، چا د اوبو بندونه او چا هم د بریښنا مزی غځول. په لنډه موده کې د شین ځنګل وروسته پاتی ټاپو په داسی یو پرمختللی او مډرن ټاپو بدل شو چې ثانی یې د نړۍ پر مخ نه لیدل کیده.او ددې کار په بدل کې د نړۍ ډیر زاړه زاړه پانګوال هم په ځوانانو بدل شول.کله چې د نړی پرمخ دغریبو خلکو غوږونو ته د اوازه ورسیده نو ډیر ناهیلي او اندیښمن شول ، ځکه هغوي دومره څه نه لرل چې د ځوانۍ دارو پرې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نا امیدۍ په فضا کې د پانګوالۍ له پاره هلی ځلی تندې شوی ، د مدني قانون ځای د ځنګل قانون ونیو ، زورورو د کمزور و په شتمنیو بریدونه پیل کړل ، هرې خوا د جګړی اورونه بل شول ، د کمزورو وینې وبهیدلی او زورور نور هم شتمن شول.

ډاکټر لمر چې ددې ستر بشري ناورین څخه خبر شو ، په خپل کړي خدمت ډیر زیات خواشینی شو ، په بیړه یې د شین ځنګل له تاپو څخه ځان ورک کړ . اوس ستر ستر پانګوال چې په بیلابیلو ناروا لارو یې سترې پانګې لاس ته راوړي ، هره ورځ دهغه په لټون پسې ستړي ستومانه ګرځي خو ډاکټر لمر داسی غیب شوی چې نه یې مړی شته او نه یې ژوندی چاته معلوم دی.

د ډاکټر لمر لابراتوار څو څو ځلی د دارو جوړولو د سترو کمپنیو له خوا ولټول شو څودهغو دارو نسخه په لاس راوړی خو ډاکټر لمر هغه نسخه په خپلو مغزو کې د ځان سره وړې ده.

10-01-2006 پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



طتزي کیسه

# انصاف

- اور دې په داسې کور شي ، پیسې شته خو هیڅ په کې نه شته...
ما له ویرې غږ نه کاوه خو په زړه کې مې ګرځیدل ، هرو مرو څه پیښه شوی چې مور مې دومره په غوسه ښکاري. په دې وخت کې مې پلار له بهر نه راغی او چې زما د مور خلق تنګي یې ولیده نو په حیرانۍ یې وپوښتل :
ـ ښځی ! بیا څه ټکه را لویدلې چې ځمکه ځای نه در کوي ؟
مور مې په داسی حال کې چې اعصاب یې ډیر نا رامه و وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـسړیه ! ستا له بې پروایې نه مې زړه خولې ته راغلی، په کو ر کې نه چای شته، نه بوره، نه مالګه او نه غوړي ، .حیران یم چې بیګاه ته څه زاراو ګنډیر پا خه کړم. کور نه دی، سم دم د مړو هدیره...

پلار مې مسکی شو او ویې وویل:

ـ خیر دې نن یو څه ګذاره وکړه ، په دفتر کې مې ډېر زیات کارونه وو که د خدای رضا وه سبا به هر څه درته راوړم.

مور مې په غوسه وویل:

ـ ستا یوه ورځ نه ده ، ټول عمر دې په همدې بانو تیر کړ.

پلار مې ورغبرګه کړه : ښځې پخپله پوهیږې یوزړې سړی یم چی یو کارته مخه کړم بل رانه پاتې وي.

په دې خبره مې مور نوره هم په قهرشوه :

ـ یو وزری په څه یې...؟ زلمی زوی دی په کور کې ناست دی چې ته وزګار نه یې زوي ته پیسی ورکړه چې هغه له بازاره سودا راوړي. پلار مې مسکی شو او ویې ویل:

ـ ملامته نه یې د کور ښځه یې بازار دې لیدلی نه دی ، په بازارکې داسې سفید پوشه کسان ګرځي را ګرځي چې ته به فکر کوې کومه ملا یکه له اسمان نه را ښکته شوې خو چې اصلیت یې راو سپړې له هغه نه به لوي غل په دنیا نه وي. زوي خو مې یوازې ښونځې ته تللی راغلی ، د بازاري خلکو له چالاکۍ سره نا بلد ه دی ، که په سودا پسې یې ولیږم ، سودا څه چې وایم غټ پټ زوي به رانه په بډه ووهي

په مور مې دا خبره نوره هم بده ولګیده:

ـچې دومره اعتبار ور باندې نه لرې نو بیا ورشه بنګړی ورته راوړه او د لور غوندې یې په کور کې کښینوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مور دا خبره په ما هم د ټوپک له ډزنه بده ولګیده، یو ځل مې د مور سترګو ته وکتل او بیا مې د پلار سترګو ته ، خو له ویرې نه مې سپونې هم ونه کړې. پلار زما په خپګان پوه شو. په خندا یې وویل.

ـ ښځې په زوي مې ملا متیا مه اچوه. پسات ټول په بازار کی دی، پرېږده یې چې اوس خپل سبقونه ووایي ، د کور کارونه به بیا وروسته کوي. خو مور مې دا خبره نه منله ویل یې :

ـ هر څه چې کیږي ودې شي. خوزما زوی باید هرو مرو د بازار سره بلد شي ، ځکه تر څو پورې به د دنیا له ښو او بدو نا خبره وي او بله دا چې ستا به هم لاس ورباندې سپک وي.

پلار مې د یو څه سوچ نه وروسته وویل:

ـ سمه ده ، چې ته وایې نودا به ستا ومنم. سبا د جمعې ورځ ده ، ښونځی رخصت دی ، پیسې به ورکړې او سودا به راوړي.

د پلار په دې خبره زه هم خوشاله شوم او ځان ته مې د سړیتوبه تمه پیدا شوه. مور مې سهار وختی له درانه خوبه پاڅولم. په جیب کې یې د پیسو سره یو ځای د سودا لست هم راته وسپاره او د تګ په وخت کې یو ازې دومره وویل:

ـ زویه ! بیګاه خو دې د پلار خبرې واوریدې ، ډیر پام به کوې چې څوک دې تیر نه باسي.

ما ورته وویل:

ـ ډاډه اوسه مورې ! دومره نو ساده نه یم ، په ښوونځي کې سبق وایم ، په کتابونو کې مې ډیر څه لوستي ، په هر څه ښه پوهیږم.

په دې خبره مې ، مورنوره هم ډاډه شوه او د شاباسي سره سره یې په ټنډه هم ښکل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ کور له بازاره یو څه لرې و ځکه مو ږ د ښار په یو کنج کې اوسیدلو. چې روان شوم نو په ټوله لاره مې همدا اندیښنه مخې ته ولاړه وه ، هسې نه چې څوک مې تیر نه باسي !

په همدې اندیښنو او سوچونو کې بازار ته ورسیدم . شا وخوا مې ترورترور کتل ، نا څاپه مې د یوه دوکان په لو حه سترګې ولګیدې (( انصاف چای پلورنځی )) ، د انصاف د کلمې په لیدلو مې په زړه کې خوشالي په ټوپونو شوه . ځکه ما د ښونځي په کتا بونو کې د انصاف په هکله ډیرې کیسې لوستې وې او هم مې په جو مات کې د ملا صیب نه دا خبره ډیره اوریدلې وه چې انصاف ښه شی دی ، د با انصافه سړي په شتو کې برکت وي او بې انصافه بنیادم په دنیا کې خلکو ته مخ تورن او په اخیرت کې د الهي د سترو عذابونو سره مخ وي ......

بس نو په زړه کې مې سمد لاسه دا متل وګرځیده ( ما موته ، بیا دې موته )، دومره لویه لوحه یې چې لیکلې ، خامخا د انصاف خاوند دی او چې د انصاف خاوندوی نو ما به هم نه تیر باسي .

په ډاډه زړه د دوکان مخې ته ودریدم او بې له دینه چې د بیې په اړه ورسره خبرې وکړم چای مې ورنه وتللو او پیسې مې ور کړې. څو قدمه چې وړاندې لاړم، بیا مې په بله لوحه سترګې ولګیدې لیکل شوی و: (( انصاف خوراکه پلورنځی )) نور هم خوشاله شوم او له هغه نه مې هم غوړي، بوره، مالګه او داسې نور خوراکې شیان واخیستل او بې له دینه چې چنې ورسره ووهم پیسې مې ورکړې.

ټوله سودا مې په یوه بوجې کې واچوله. څوقدمه چې د مخکې لاړم، پام مې شو چې لیکلی یې و. (( انصاف در ملتون )) ، ( انصاف سلماني ) ، ( انصاف کلینیک )...... خو شاله شوم او د ځان سره مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ نه پوهیږم دا خلک ولې وایي چې په ښار کې انصاف نه شته ، دلته خو په هر څه انصاف لیکل شوي

په همدې چرتونو کې ډوب وم چې غرمه را ورسیده. زه هم ښه وږی شوم . د غرمې ډوډۍ مې په ((انصاف رستوارنت)) کې وخوړله. له ډوډوۍ نه وروسته مې یو څه سودا نوره هم واخیستله ، وړل یې راته ګران شول. سترګې مې په لاسي کراچیو ولګیدې. د ټولو په منځ کې مې په هغې کراچۍ لاس کیښود چې مخامخ یې په سره رنګ په ګډوډو توړو لیکل شوی و ((انصاف کراچی)) !

سودا مې په همدې کراچۍ کې بار کړه. هغه مخکې او زه وروسې شوم. تیاره ماښام سترړی ستومانه دکور په دروازه ور ننوتم. مور له ورایه راباندې غږ کړ:

ـ زویه ! څنګه دې دومره ناوخته کړ ، خیریت خو به و ؟

ـ هو موری ! خیریت و خو هسې هلته...

پلار مې وویل:

ـ ته نور ې خبرې پریږده دا ووایه چې سودا دې راوړه که نه ؟

ـ هو هو.... هلته... هلته بهر ...هلته بهر په انګړ کې ایښې ده

پلار سره مې د هر څه نه زیات دسوداد قیمتونو اندیښنه وه زما په وارخطایې او بنده بنده ژبه پوه نه شو . ژر یې رانه و پوښتل:

ـ ووایه زویه ! غوړي دې په څو واخیستل ، بوره دې په څو واخیستله...... ؟.

ما یې ژر خبره ونیوله او د سودا بشپړ لست مې د هغه په مخ کې کیښود. پلار چې مې په لست کې دسودا قیمتونو ته ښه ځیر شو ، نا څا په یې سر ته ټک ورکړ، مو ر مې په حیرانۍ ورنه پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ سړیه ! څه خبره ده؟

پلار مې وویل:

ــ تباه شوی یم. د لسو روپیو شی یې په پنځلس او د پنځلسو یې ، په شل ور باندې خرڅ کړي ، نه مې درته ویل چې دا خلک بې انصافه دي ، هلک به سودا پسې نه لیږو خو تا خپله کوله او زما دې نه منله

ما په بیړه د پلار خبره غو څه کړه :

ــ نه نه پلاره ! دا درسره نه منم. ځکه ما ټوله سودا په داسی دکانونو کې اخیستې چې په سر یې په غټو تورو (( انصاف )) لیکل شوی و.

پلار مې وویل:

ــ زویه ! په همدې کې تیر وتلی یې. هر هغه څوک چې څه نه لري، د همغه شي یادونه ډیره کوي.

د دې خبرې سره سم ما ته هم خپل یو همصنفی رایاد شو. هغه به د ښونځي په ازموینه کې تل په واسطو او نقل بریالی کیده خو چې بهر به د خلکو سره مخامخ شو نو بیا به یې د خپلې پوهې او لیاقت خبرې کولې. د بلې خوا زموږ د ټولګی او لمبر بیا ډیر زیات تکړه و خو هغه به هیڅکله دا خبره نه کوله چې زه تکړه یم.

د پلار خبره را ته د کاڼی کرښه ښکاره شوه. زړه نا زړه مې ورته وویل :

ــ پلاره ! ستا خبره سمه ده ، له ما نه هم ټوله سودا د هغی کراچې خاوندو تښتوله چې په ټنده یې به لویو تورو لیکل شوی و (( انصاف کراچۍ ))


ځکه خو تش لاس کورته راغلی یم

مور چې مې دا خبره واوریده نو په ژړغونی غږ یې وویل:


ــ زویه ! سر مې د خریلو دی چې ته مې په سودا پسې ښار ته لیږلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# زاړه دښمنان ، نوي دوستان



ونه و په پخوا زمانوکې یوه کلیوال ښې ډیرې چرګانې ساتلی وې. چرګو به هره ورځ هګۍ اچولې او کلیوال به خرخولې له دې لارې یې ښې ډیرې پیسې لاس ته راوړې.

د شپو نه یوه شپه ناڅاپه د چرګانو د ټیغ، ټیغ غږونه پورته شول. کلیوال په وارخطایې له خوبه را پاڅیده او په بیړه یې د چرګانو دساتنې ځای ته ځان ورساوه .له ورایه یې ولیدل چې ګیدړ یوه غټه پټه چرګه په خوله کې نیولې او په شنه منډه یې دځان سره یوړله..

کلیوال زیات اندیښمن شو او له ډیرې اندښنې نه یې تر سهاره خوب ونه کړ. په همدې فکرونو کې ډوب و چې څنګه خپل چرګان په راتلونکې وخت کې د ګیدړ له شره وساتی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو څه چروتونو او فکرونو وروسته یې داغوره وبلله چې د ګیدړ دښمن سپی دی ، ښه به وي چې د یو دښمن له پاره بل دښمن پیدا کړی.
په همدي هیله سهار له کوره ووتلو ، ماښام چې کورته راتلو نو یو ښه هډور کوچیانی سپی یې د ځان سره راوستلو.
ګیدړ نیمه شپه بیا دکلیوال کور ته راغی. خو دا ځل یې له ورایه د سپی غپا تر غوږ شوه. چرت یې خراب شو. ځای په ځای ودرید ه او دخپلو نویو چالونو په لټه کې شو.
د یو څه فکر وروسته یې یو چل وموند ، د کلیوال د کلا مخ ته یې ځان نږدې کړ. په سپی چې د ګیدړ بوي ولګید نو په غپا غپا یې ټول کور په سر واخیست.
کلیوال چې د خپل سپي غپا واوریده ،زیات خوشاله شو اوپه دې ډاډه شو چې نور نو د ګیدړ له شره بیغمه شوی دی .په همدې هیله په درانه خوب ویده شو .
ګیدړ خو هم په هوښیاری او چلاکۍ کې نوم لری. ، کله به دکلا یوه دیوال ته ه اوکله به دکلا بل دیوال ته ودرید. ټوله شپه یې سپی په منډو رامنډو او غپا دومره ستړی کړ چې نور نو دخوځیدو نه و.
ګیدړ د یو لنډې شیبې له پاره ځان دکلا نه لیرې کړ. سپي ډاډه شو چې ګیدړ تللی نوځکه په درانه خوب ویده شو.
ګیدړ همدغه شیبه غنمیت وګڼله ، غلی غلی د کلا ددروازې د ایراو له لارې یو ځل بیا د کلیوال کورته ننوت اوخپل ښکار یې په یو ترنګ کې دځان سره یووړ.
کلیوال چې سهار را پاڅید ګوری سپی یې ویده اوپه چرګانو کې یې یوه بله چرګه هم نشته. فکر یې ډیر خراب شو او دچارې په لټه کې شو. دلږفکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته يې نيت وکړ ښه به داوی چې کور ته يوه پيشو هم راوړی.ځکه سپی او پيشو په خپلو کی زړه دښمنی لری. هغوي به تولوه شپه يو په بل پسې منډې رامنډې وهي ، د همدې دښمنی له برکته به سپی خوب نه کوي او دده کور به د کيدړ له شره خلاص وي

ماښام يې ښه غټه توره پيشو کور ته راوړه. سپی چې پيشو وليده نو سمدلاسه يې ورته په غپا شروع وکړه. پيشو هم خپله دښمنی دميو ، ميو.. په غړ ورغبرګه کړه. دواړو تولوه شپه په ويښه تيره کړه. سپی به په پيشو پسې منډی وهلی او پيشو به کله د کلا په يوه سر او کله به بل سر له ورايه ورته د ميو ميو... غږونه کول.

ګيدړ چې د کلا نه دباندې د سپی او پيشو غږونه واوريدل پوه شوه چې نن څه په لاس نه ورځی. نو ځوړند سر د ځنګل په لور روان شو. خو په زړه کې ډاډه و چې په يوه کور کې ددوو دښمنانو ګذاره نه کيږی. مجبوره دی يو به کور خوشی کوی. خو پيشو او سپی دواړو ته کليوال هره ورځ ښې غوړې زيړې ورکولی نو ځکه يوه هم د کور خوشې کولو ته زړه نه ښه کولو.

څو شپې او ورځې يې همداسی په دښمنې کې تيری کړی.

د شپو نه يوه شپه پيشو د کلا د سر نه سپی ته ورغږ کړ:

ــخوشې ځان مه ستړی کوه، هيڅ وخت به ته خپل غاښونه په ما تاوده نه کړی، راځه چې په زړی دښمنې خاوری وا ړو او يو بل ته د دوستۍ لاسونه ورکړو. ، په دښمنۍ کې نه ستا ګټه شته او نه زما .

سپی چې د پيشو دا خبره واوريده نو يو څه په فکر کې ډوب شو . ځکه هغه هم د ډيرو منډو رامنډو او غپا له لاسه نور ستړی شوی و.

ــ پيشو ته يې وويل ستا وړانديز ماته منظور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو يو بل ته د دوستۍ لاسونه ورکړل او بيا لاړل په خپلو ځايونو کې په ارام خوب ويده شول. ګيدړ چې د کليوال په کور کې ښه ډير چرګان ليدلی و. ، زړه يې نه صبريده . نن شپه يې بيا هم د کليوال کلا ته ځان راوساوه. يوه ښه شيبه يې غوږ ونيو. پوه شو چې په کور کې کراری ده. په ارام زړه کور ته ورننوت او بيا يې هم خپل ښکار تر لاسه کړ.

کليوال چې سهار را پاڅيد ګوری پيشو او سپی دواړه بيغمه ويده دی. د خپلو چرګانو په شمير لو يې پيل وکړ، پوه شو چې بيا يې هم يوه چرګه ګيدړ وړی ده. د غوسې نه تک سورواوښت. او نيت يې وکړ سپی او پيشو دواړه له کوره وشړی. خو دلږ فکر وروسته يې تصميم بدل شواو پريکړه يې وکړه چې له يوه نه دوه او له دوو نه دري دښمان ښه وي

ټوله ورځ يې دموږ کانو د سوړو په لټولو پسې تيره کړه. ماښام چې کورته راتللو نو يو ښه غټ موږک يې هم دځان سره راوړ. پيشو چې په موږک سترګې ولګيدی نو د خوشحالی نه يې په ميو ميو ورته سترې مه شې وويل. موږک هم په ځونګ ځونګ کې داسې ځواب ورکړ:

پيشو ګلې ! زماخوراک دومره ساده نه دی. خوشې به ځان نه سترې کوې. پيشو ته چې د سپی او خپلې دښمنې نتيجه معلومه وه. موږک ته يې د هم دوستی لاس وغزاوه . موږک هم ورسره ومنله او دواړه يو ځای سپي ته ورغلل او د خپلې دوستۍ نه يې هغه هم خبر کړ. سپی ورته وويل:

ستاسو دوستي ماته منظوره ده ، که غواړی چې موږ او تا سو دريواړه په دې کور يو ځای واوسوواوښه غوړ زيړ خوارکونه وخورو نو ښه به داوی چې د ګيدړ د راتلو مخه په ګډه ونيسو ، ځکه د کور خاوند موږ د همدې کار له پاره ساتلي يو . پيشو ورته وويل: زه خو بې منم خو ښه دموږک ده. چې هغه يې منی او کنه؟ موږک ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ تاسو دواړه له ما مشران یاستې چې ستاسو خوښه وي. زما هم خوښه ده دریواړو یو بل ته د دوستی لاسونه ورکړل او هر یوه به په خپل وار د شپې له خوا پیره کوله. کله چې به ګیدړ کورته را نږدې شو او د پیرۍ وار به د پیشو یا موږک و، نو ژر به یې سپی راویښ کړ او ګیدړ به یې په راغلی لار بیرته وځغلاوه.

شپې او ورځې تیریدې: کلیوال له دریواړو نه ډیر زیات خوشحاله و او هره ورځ به یې دریواړو ته ښه رنګا رنګ خواړه ورکول. خودبلې خوا ګیدړ هم په کرار نه و ناست، شپه او ورځ یې د نویو چالونو په لټه سبا کول.

دورځو نه یوه ورځ د ځنګل پاچا زمری ته ورغی او د خوشامندونه په ډکه خوله یې ورته وویل:

ـ ای دځنګل پاچا! ستا له پاره مې یو ډیر ښه ښکار لیدلی دی. داسی خوږه غوښه یې ده چې تا به په ټول عمر څکلی هم نه وي.

زمری په خوښی ورته وویل:

- ستا غوندې هوښیار اشنا نه مې، دهمداسی یوه زیری تمه لرله. ځکه چې د ځنګله دځناور د غوښو نه مې زړه تور شوی، نن باید داسې غوښه وخورم. چې په ټول عمر مې نه وي خوړلې.

ګیدړ ورته وویل:

-نو بیا خو په ما پسې راځه!

ګیدړ مخکی او زمری ورپسی شو. پخه نیمه شپه د کلیوال د کلا مخ ته ورسیدل.

ګیدړ زمری ته مخ وروا ړولو او ورته ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ای دځنګل پاچا ! ښه به داوی تر سهاره صبر وکړو څو زموږ ښکار له کوره راووځی

زمري د تایید سر ورته وخوځاوه او بیا یې زیاته کړه:

ـ تر سهاره خو ډیر وخت دی، زیات مزل مو کړی، زه او ته دواړه ستړي شوي یو، ښه به وي چې یوه شیبه خوب وکړو.

ګیدړ هم ورسره ومنله دواړه په درا نه خوب ویده شول. په کور کې د پیرې وار د موږک و ، هغه چې د ځار له پاره له کوره بهر راووت ، ګوری چې کیدړ او زمری دواړه د کلا په دروازه کی ویده پراته دی.

موږک په بیړه کورته ننوت ، پیشو او سپی یې دواړه له خوبه را ویښ کړل. هغوی چې د زمری له راتګ نه خبر شول دواړو په ژړا پیل وکړخو موږک په غوسه ورته وویل:

ـ په ژړا دمرګ نه ځان نه شی خلاصولی، راځی چې کینوپه خپلو کې مشوره وکړو او دځان د خلاصون له پاره یوه لاره چاره پید ا کړو.

سپی په څوړند سره موږک ته وویل: له ما او پیشو نه خولاره ورکه ده، ته چې هر امر کوی ، زه او پیشو به یې دواړه منو.

موږک وویل:

ـ ښه ده چې تاسو دواړو ماته خپل واک راکړ نو د زمری نه د خلاصون لاره ماته معلومه ده .

پیشو په حیرانۍ پوښتنه وکړه:

ـ ته څه وایې موږ که وروره ! زمری دټولو حیواناتو پاچا دی ، دهغه نه ځان خلاصول د خوب لیدل دی.

موږک په ځواب کې ورغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ مه وراخطا کیږی. ځه چې زه درته وایم تاسو دواړه به هماغسی کوی.
سپی وویل:
ښه ده ته مخکی شه موږ درپسی یو.
موږک وویل:
- تاسو دواړه به لږ صبر وکړی. زه ورځم یو ځل یې ګورم چې ګیدړ او زمری په رښتینی ویده دی او که موږ او تاسو ته یې چل ول جوړ کړی.
پیشو وویل:
ــ ډیره ښه خبره دې وکړه ، ځه وروره ته ورشه. ته ډیر کوچنې یې ، تاته څه نه وایي.
موږک غلی غلی ورغی، د زمری په شا ښکته پورته وګرځیده ، خو زمری هیڅ ځان ونه خوځاوه. بیا یې پیشو او سپی ته اشاره وکړه چې راځی !
سپی او پیشو دواړه دموږک په امر ورننږدی شول.
موږک غلی پیشو ته وویل:
زمری ویده دی. ته به ورشې او ناڅاپه به په زمري خپل تیره نوکان ښخ کړې او بیا به وتښتې.
پیشو همداسی وکړل. زمری چې راویښ شو ګوری شاوخوا یې هیڅوک نه شته فکر یې وکړ چې دا ټوله دسیسه همدې مکار ګیدړ ورته جوړه کړی ده. سمدلاسه یې په خپل څنګ کې په خوب ویده ګیدړ حلمه وکړه او دغغه په مرې یې خپلې داړې ټینګکی کړی. ګیدړ یې ځای په ځای وواژه او پخپله په راغلې لار نا امیده د ځنګله په لور رهي شو
کلیوال چې سهار له کوره راووت ګوری ګیدړ دکلا تر مخ مړ پروت دی ، سپی ، پیشو او موږک دریواړه ورته ولاړ دي او خپله خوشالي څرګندوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو پښتو کتابونو لپاره:www.ketabton.com

.دکورخاوند ډاډه شو چې نور يې جرګان دګيدړله خطره په امان دي نو دريواړه يې له کوره وشړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غیرتي لالا

نوم یې ( صا بر ) و خو په نامه چا نه پیژانده ، په ټول کلي کې په (( غیرتي لالا )) مشهور و. ځکه هغه به تل د خپلی هرې خبری وروسته همدا خبره تکرار وله:

(( غیرت ښه شی دی، د بې غیرته سړي قبر په هدیره کې معلوم وي ))

غیرتي لالا رښتیا هم ډیر تریخ سړی و، مچ یی په خپله پوزه نه پریښود . چا ورسره د یوې نه دویمه خبره نه شوه کولای.

یوه ورځ مور سره د ژمی پیتاوي ته ناست و. چا یو څه ویل او چا بل څه... !

.د خبرو اترو په ترڅ کی غیرتي لالا د خپل تر بور سره په دې خبره اختلاف پیدا شو چی تربور یې ویل د بر کلي د سپین ګل خان د کلا برچ لوړ دی اغیرتي لالا ورته ویل چی نه ، د کوز کلي د سورګل خان د کلا برچ لوړ دی.

یوه د یوه نه منله او بل د بل نه منله .

یوه ورته ویل: ستا پلار به یی هم را باندې و نه مني

بل ورته ویل: ستا نیکه به یې هم را باندې ونه مني

ـ ستا غور نیکه به یې هم راباندې ونه مني

ـ ستا ټر نیکه به یې هم راباندې ونه مني.

خبره چې غور او ټر ته ورسیده نو دواړو یو بل له ګریوانو ونیول . د سوک او څپیړی سیالي پیل شوه. په دې کش او ګیر کې د غیرتي لالا پښه ښویه شوه او په ځمکه را ولویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیرتي لالا چی را پورته شو نو ځان ورته ډیر بی غیرته معلوم شو ځکه چې تربور د ټولو کلیوالو په منځ کې راخملولی و.

وینه یی په جوش راغله، له بډې نه یی تومانچه را وویستله او په خپل تر بوریی تشه کړه.

په سبا ورځ تربور خوارکی تورو خاورو او غیرتی لالا د زندان تورو کوټو ته لاړ.

شپې او ورځې تیریدې. د غیرتی لالا کورنۍ د تربورانو له ویرې خپل کور او کلی پریښود او ښار ته یی کډه وکړه.

د ورځو نه یورځ مې غیرتي لا لا په زړه ووریده ، نیت مې وکړ یو ځل یې له نیږدې نه وګورم .ځکه له یوې خوا مې کلیوال او له بلې خوا مې یوه ګوته یار هم و . د لیدو لپاره نیغ زندان ته ورغلم

د غیرتي لالا چی په ما سترګې ولګیدې نو زیات خوشحاله شو. دروغبړ نه وروسته یې وویل:

ـ اشنا په ډیر ښه وخت کې راغلې ، یوه شیبه دمخه مې د مور له خوا لومړنی لیک را غی داچې زه یې د لوستلو نه عاجز یم نودابه راته ته لولې ، بیا یې جیب ته لاس کړ او دمور لیک یې راته وسپاره.

ما د ځان سره د لیک په لوستلو پیل وکړ چې قیرتي لالا په غوسه وویل:

ـ د ځان سره به نه ښیږې ، په زوره زوره یې ووایه چې زه یې هم واورم.

ښه مې ورته وکړه او بیا مې د هغه د مور لیک ورته داسې واوراوه:

ـ زما د کلونو بندیوانه زویه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام علیکم ! خدای دې زویه په سته راته روغ او جوړ لره . زموږ له خوا نه هیڅ اندیښنه مه کوه ، له هغې ورځې چې ته بندي شوی یې په موږ هیڅ تنګسه نه ده راغلې...

زه له سهاره تر ماښامه په ښار کی سوال او ګدایی کوم او چې شپې کور ته راځم نو شکر دی یو څه نغدې پیسې راوړم .

پیغله لور او میرمن دی هم تکړه دی ، هغوی دواړه سهار له کوره وځی او د خلکو په کورونو کی خیرنې جامې او یا لوښي موښی مینځي ، هغوي هم یو څه راوړی.

زوی ګوتي دې ښونځی پریښود ، له بدو سترګو دی ساتلی وي نامې خدای ډیر تکړه دی. اوس په یوه هوټل کی په ګیډه مزدور دی او موږ یې له خوراک ، څښاک نه بیغمه یو. خوبیا هم تکړه دی چې شپې کورته راځی نو په هوټل کی د خلکو نه پاتې شوني خواړه ماړه هم له ځان سره راوړی .

نورڅه د لیکلو له پاره نه لرم. که کوم شی ته اړتیا لری ، مونږ ته لیک را ولیږه. ستامهربانه مور

غیرتی لالا چی د خپلی مور لیک ښه په غور واوریده نو په کړس، کړس یی وخندل ، په خپلو غټو غټو بریتونو یی لاس تیر کړ او بیایی وویل:

وا دی وریده اشنا ! د غیرتي سړی خته غیرتي وی. غیرت ښه شی دی د بې غیرته سړی قبر په هدیره کې معلوم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خبرو بوجۍ

زموږ په هیواد کې د حکومتي مامورینو جیب تل سپیره وي خو چې تنخوا یې هم په خپل وخت حواله نه شي او د کورنۍ شمیر یې هم زیات وي نو بیا راشه که تود یږې.

دوه میاشتې په دې نامه چې تخصیص نه دی راغلی زموږ تنخوا ځنډیدلې وه او په کور کې هم د اوړو دومره ګرد نه و چې بیګاه ته مو ترې ډوډۍ پخه کړې وای . په خوارۍ او زارۍ مې د یوه اوبل نه دومره پیسې پور کړې چې بس یوه بوجۍ اوړه پرې واخلم:

په یوه منډه مې د اوړو منډایی ته په دې خاطر ځان ورساوه چې یو څه ارزانه په لاس راشي . د اوړو بوجۍ مې واخیستله پنډۍ ته مې په لاسی کراچۍ کې بارکړه ، هغه د مخه او زه ورپسې شوم.

د اوړی بده ګرمۍ وه، د ټول وجود نه مې د ویالې د اوبو په څیر د خولو سیلاب روان و. زیات تږی شوم. پنډۍ ته مې وویل ته ځه او زه درپسې ځان درسوم.

د اوبو خرڅونکی په مخ کې ودریدم او د اوبو ډک ګیلاس مې شونډو ته نږدې کاوه چې ناڅاپه په اوږه باندې کوم چا سخته څپیړه راکړه.

څپیړه نه وه، د ټوپک ګولۍ وه. په ټول وجود مې ورته د سر نه تر پښو پورې اوربل شو. خو چې مخ مې ورواړاوه ، ځان مې غلی ونیوه ، ځکه چې هغه زمونږ د دفتر یو پخوانی همکار و چې اوس په بل ځای کې کارکوي.

.سمدلاسه راغاړی وت. لس، پنځلس دقیقې خوبې په سترۍ مه شې، خوار مشی تیر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماغوښتل ورته ووایم چې د اوړو بوجۍ مې پنډی ته ورکړی خو هغه زما خبره په نیمایی کې غوڅه کړه او په خپلو خبرو خبرو کې یې داسې را ګیر کړم چې ما هر څومره وسه کوله ځان تري خلاص کړم خو د سرینښو غوندې راپورې کلک نښتی و. بس په یو ساه یې په خبرو راته داسې پیل وکړ:

..... پرون سهار چې له خوبه را پاڅیدم، هډوکو مې ډیر درد کاوه خو چې د وړو مور د شیدو د خوندور چای ډکه چاینکه په مخ کې راته کیښوده او څلور پنځه پیالی مې په مزه مزه ورنه وڅښلی نو د هډوکو درد مې هم ښه شو.

زه په کور کې دوه جوړه بوټان لرم. یو تور او بل نصواری رنګ لری. په دې ورځ مې تور بوټان په پښو کړل. چې له کوره راوتم او بیا ښاری بس ته وختم نو په موټر کې ډیره ټمبه ټیله وه. تور بوټان یې راته له کاره وویستل. چې له ښاري بس نه کوزشوم نو لومړی مې خپل تور بوټان پاک کړل.

په ښار کې می هیڅ کار نه و. ټوله ورځ مې په ښار کې په خوشی ګرځیدو تیره کړه. ماښام چې کورته راغلم نو ښه ستړ ی وم. د وړو مور دې کور اباد وي، زما په زړه خواړه یې پاخه کړی و. په خوند خوند مې وخوړل او دخوراک نه وروسته سمدلاسه ویده شوم.

څه به دې سر خوږوم چې څنګه ویده شوم په خوب کې مې لیدل ، یو لوی د ښامار غوندی مار زما خواته را روان دی، زه د ویرې نه داسې لړزیدم لکه په ونه کې چې پاڼه دباد سیلۍ خوځوی. یو ناڅاپه ته را پیدا شوې او په مار دې د یو غټ کاڼی ګوذار وکړ. .. ستا د ګوذار سره سم مار ځای په ځای مړ شو او زه دې دمار له چیچلو خلاص کړم همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library




اوس چې هغه شيبه را په زړه کړم، زړه مې غواړی چې دا ټنډه دې ښکل کړم.

پخواني همکار چې زما د ټنډی ښکلولو ته ځان جوړ اوه، ناڅاپه مې د خپلو اوړو بوجۍ را په زړه شوه. د اوبو ډک ګيلاس مې بيرته کيښود او د ليونی غوندې مې په منډو پيل وکړ.

ټول ښار مې د يو سر نه بل سر ته ځو ځو ځلې ګز وپل کړ ،هره خوا به مې ترور ترور کتل او دهرچا نه به مې د پنډي د ليدو پوښتنه کوله خو نه د پنډی درک و او نه زما د اوړو د بوجۍ


په دې توګه مې دخبرو د بوجۍ په پيدا کيدو ، خپله د اوړو بوجۍ له لاسه ورکړه.

***۱۳۷۵ل کال _ جلال اباد***



طرحه

# د يارانو ياد



(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې لري، یاران مې ډېر وو، خو په ټولو کې مې یو یار ډېر یادېږي،
هر چیرته چې وي خدای دې ژوندی لري.

نوم یې ( مرچکی ) و، خوپه خوږوالي کې د ګوړې نه هم خوږو. ډېر
عجیبه سړی و، تل به یې خوله له خندا ډکه وه، د زغم او حوصلې خویې
هیڅ پوښتنه مه کوه، چې لس څپیړې دې وهلی وای، ویلي به یې نه وای
چې ستا په مخ څو سترګې دي ؟

.په ټول کلي کې به د هغه د ښه سړیتوب خبرې کیدلې نو ځکه به ځنو
کلیوالو ویل:

ـ کاشکې د مرچکي نوم شیرین وای او د شیرین نوم مرچکی وای.

(شیرین ) زمونږ بل یار و، نوم یې شیرین و، خو د مرچکی نه هم تریخ و.
د یوې خبرې نه، بله چا ورسره نه شوه کولی. په نه خبره به د هر چا سره لاس
او ګریوان و. خو د دې ټول تر یخوالي سره بیا هم خلکو ورته 0د شیرین غږ
کاوه. ځکه چې نوم یې شیرین و.

نه پوهیږم ( تورګل ) یاربه په کوم وطن وي......؟

ډېر ښایسته سړی و. د رنګ له پلوه د سپینې پاغوندې نه هم تک سپین
و، خو مور او پلار له دې ویرې چې د نظره نه شي، نوم یې تورګل پرې
ایښی و. کلیوالو بیا ګل ورنه شکولی و او (( توری )) به یې ورته وایه.

توری ښه غټ پټ ،هډور او چیناري سړی و، تل به یې پاکې، ښایسته او
نوې جامې اغوستې وې .

په اول ځل به چې څوک ورسره مخامخ شو ، د هغه باډي ، کش پش ،
ښایسته، پاکې او سپینې جا مې ولیدې، نو فکر به یې کاوه چې په څلور
کنجه دنیا کې به له توري نه هوښیار، پوه او ځیرک سړی نه وي. خو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به يې په خبرو پيل وکړ او يو غر به يې په بل غر وويشت، نو ژربه پوه شوې چې سړی مړی نه دی، بس په سر کې يې د مغزو په ځای بوس پراته دي.
ځينو کليوالو خو به کله نا کله دا خبره هم کوله:
_کاشکې باډي د تور ګل وای او هوښياري د ښايسته ګل !!!.
( ښايسته ګل ) زمونږ يو بل يارو. نوم يې ښايسته ګل و، خو د بدرنګو نه لابدرنګ و.وچ پوچ، تش د څو هډوکو يو اسکليټ و. پلنه پوزه ، پيړې شونډې، ببرې وروځې، پېړ غوږونه، غټ سر، ټيټه ونه، تک زيړ اوږده غاښونه، بس دا سې يو شی ولکه يوماشوم چې کيني او د خټونه يوه څيره جوړه کړي. خو په پوهه او هوښيارۍ کې دومره وړاندې وچې شل تورګله په يوه ښايسته ګل پسې نه شورسيدای.
ددې ټولو بدرنګيو سره سره بياهم خلکو ورته ښايسته ګل ويل ،ځکه چې نوم يې ښايسته ګل و.
نه پوهيږم زمونږ ( سخي ) يار به مړوي او که ژوندی؟
زمونږ په منځ کې هغه ډير پيسه داراو پيسه دوست و. ښې ډيرې پيسې يې لرلې، خو نه يې پخپله خوړلې او نه يې بل چاته ور کولې.
هغه ورځ مې ښه په ياد ده چې د ګاونډي زوی په منډه راغی او په ژړغوني غږ يې ورته وويل::
_ سخي کا کا ! پلار مې مړ دی، د کفن پيسې نه لرم، که يو څو روپۍ په پور راکړې، ټول عمر به درته دعا ګا نې کوم.
سخي يار چې دا خبره واوريده، نو په تنده يې دولس بجې شوې او بيا يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو پښتو کتابونو لپاره:www.ketabton.com

ـ پلار دې خدای وبخښه ، خو وراره ما سره د پیسو خزانه نه شته ، ځه ورشه د بل چا نه يې واخله

: له دې ټولو کروړو سره بیا هم خلکو ورته سخي ويلو ، ځکه چې نوم يې سخي و او د انوم ورباندې مور او پلار ايښی و



(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیمګړی تاریخ !

.وایی: د هیواد مشهور او وتلي تاریخ پوه ، د هیواد نه لرې د مهاجرت او پردیسۍ په وطن کې د خپلو هیوادوالو د جهاد، اتلولۍ او میړانې تاریخ لیکه چې نا څاپه سپین ، تور او شنه بیرغونه ورپیدل ، ورسره سم دا نارې هم پورته شوې : ازادي، ازادي، ازادي....

وتلي تاریخ پوه چې دازادۍ غږ واوریده نو ژر، ژر یې خپلې عینکې په سترګو کړې، ښه ډیر رنګارنګ قلمونه یې د خپل کمیس په مخامخ جیب کې قطار کړل ، یو پنډل سپین کاغذ یې هم د ځان سره واخیست او په بیړه یې کابل ته ځان ورساوه.چې پاتې تاریخ په کابل کې ولیکي .

کابل ته درسیدو سره سم پغمان ته لاړ ، د طاق ظفر نه یې پیل وکړ، د دارلامان ماڼۍ، د تاج بیګ قصر، ملي موزیم، د بابر باغ ، د چهلستون ماڼۍ، د دهمزنګ منار، ملي ګالري، د کابل تاریخي چارچته، د پل خشتي جامع جومات، د ساعت برج، د عیدګاه جومات ، د میوند د شهیدانو څلي، سپاهي ګمنام څلي، د استقلال منار ، د اعیلحضرت نادرشاه مقبره او داسې نورو تاریخي ځایونو په لټه کې شو

خو دا ټول تاریخي ابدات د ازادۍ د جنګ نه وروسته د ((چوکۍ)) په جنګ) کې له منځه تللي وو.

د هغه لیکلی تاریخ نیمګړی پاتې شو او اوس د پیښنور په ښار کې د سرک په غاړه ناست دی کله الوګان، کله ګلپیان او کله ټیپر خرخوي خو د ټرافیکو د ځورونې او ډبونې نه زیات ګیله من ښکاري.

۱۳۷۵ل کال ـ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واړه سرونه ، غټ منصبونه !

په لومړۍ ورځ چې نوي ریس د ریاست دفترته راننوت ، د بدرګه
کوونکو د لاسونه په پړقا کې د ریاست کارکونکوتودې مبارکۍ ورکړې
د لنډې معرفۍ نه وروسته چې کله ریس په خپله چوکۍ کیناست او د
خپل لاس لاندې مامورینو ته یې وکتل ، ناڅاپه د ریاست د چوکۍ نه
پورته شو
خپل سریې په دواړ لاسونو کلک ونیوه او په وارخطایې وویل :
ـ ای خلکو ! زما په سترګو څه وشول ، تاسو ټول ولاړ کسان ما ته د
میږیانو په څیر واړه ښکاری .
په دفتر کې ولاړو خلکو یو بل ته حیرانی حیرانی وکتل
د چوپتیا فضا خپره شوه خو د ریاست چپړاسي چې پوره څلوپښت کاله
په دې ریاست کې د بیلا بیلو ریسانو سره کار کړی و د چوپتیا فضا
داسې ماته کړه :
ـ ریس صیب ! هیڅ اندیښنه مه کوی ، تاسو کومه ناروغي نه لری ځکه
دا ریاست ډیر غټ او ستاسو سر وړوکی دی .ځکه خو په دې چوکۍ غټ
خلک درته واړه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ویره !

په خپل کور کې ویره، د خدای (ج) په کور کې ویره
په کلي کې ویره ، په ښار کې ویره
په غره کې ویره ، په دښته کې ویره
د ژوند هره شیبه ، په هر ځای کې له ویرې او ډار ځخه ډکه وه
ځکه خو په رڼا ورځ ، د لویې لارې په سر ، دوه تنه یو بل ته په ځو متری کې مخامخ ودریدل. که څه هم دوي یو بل نه پیژندل او لاره هم ښه لویه وه خو بیا هم یو په بل نه ورتلل ځکه: .
یو له دې ډاریده چې مخاخ کس یې ځان وژونکی( انتحاري ) نه وي
بل له دې ډاریده چې مقابل لوری یې ( جاسوس ) نه وي.
ورځ شپه شوه او د شپې په تیاره کې دواړه یو له بل نه ورک شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوړ او ټيټ کلتور ؟؟؟

د پنډي ( جوالي ) پړی په اوږه پروت و
د ښار په لوي واټ کې په دې اميد روان و که څوک پرې کوم پنډ، له يوه ځايه بل ځای ته يوسي او بيګاه ته د خپلو بچيانو له پاره يوه مړې ډوډۍ پيدا کړي.
.د تګ په وخت کې يې ناڅاپه د سرک په غاړه د کيلې په پوټکی سترګې ولګيدې
هغه يې را پورته کړ ، څو قدمه وړاندې لاړ او د خځلو په ډيران يې واچاوه.
شيبه تيره نه وه چې يو لوکس موټر يې په خوا کې ودريده
د موټر ښيښه خلاصه شوه ، په موټر کې ناست فيشني ځوان د کيلو او مالټو له پوټکو نه ډکه پلاستيکي کڅوړه يې په پاخه سرک وغورځوله .
پنډي لومړی لوکس موټر ته او بيا يې د سرک په سر هرې خو د کيلو او مالټو خورو ورو پوټکو ته په حيرانۍ وکتل
خپل سر يې و خوځاوه خو پوه نه شوم چې په زړه کې يې څه تير شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلطي !

په ژوند کې هر څوک غلطي کوي:
ــ بزګر لو کاوه ، په غلطۍ کې ورنه خپله ګوته پرې شوه .
ــ ډاکټر ناروغ ته نسخه ورکړه، په نسخه کې یې غلطي وکړه ناروغ یې مړ شو.
ــ انجنیر د کور په ډیزاین کې غلطي کړه وه ، کور ونړیده ، ټوله کورنۍ په کې مړه شوه
ــ ولسمشر سیاست کاوه ، په سیاست کې یې غلطي وکړه ټول ولس او ملت یې تباه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میراث

د کلي ډیر شتمن خان و
هرڅه یې ډیروو خو زوي یې یو و .
تل به له دې ځوریده ،. خدای مه کړه که په زوي یې څه وشي
میراث به یې تربورانو ته پاتې شي
له همدې ویرې یې :
په ۱۴ کلنۍ کې خپل زوي ته ښځه وکړه .
چې کال دوه تیر شول د زوي یې اولاد په نصیب نه شو .
په ۱۷ کلنۍ کې یې دویمه ښځه ورته وکړه ، په ۲۰ کلنۍ کې دریمه ښځه،
په ۲۵ کنۍ کې یې څلورمه ښځه ورته وکړه
د زوي یې بیا هم اولاد په برخه نه شو
د څلورو ودونو وروسته ډاکتر ته لاړ
ډاکټر لابراتوار ته ولیږه
د لابراتوار په نتیجو کې معلومه شوه
د خان زوي د اولاد دزیږون وړتیا نه لري.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو پښتو کتابونو لپاره:www.ketabton.com

# زه او ته

هغه ورځ چې زه او ته ، يو بل ته مخامخ شو
ما سلام درکړ ، تا هيڅ ځواب را نه کړ
ما درته وخندل ، تا په غوسه راته وکتل.
زه چې د خپل منزل په لور روان شوم...
ډير خوشاله وم.
ته چې تللې...
له غوسې نه تک سور وې.
ما د خوښۍ نه
د شپې ، ښه ارام خوب وکړ
خو تا شپه تر سهاره په ويښه تيره کړه
– پوهيږې ولې ؟
ځکه چې :
ستا په زړه کې (کرکه) اوسي
او زما په زړه کې ( مينه) اوسي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**